
ناول
مجریم
ډاکټر عتیق الله ژمن
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ليکوال خبرى :

ډير خوښ يم چي زما د عمر په اوږدو کي مي دا ناول هم بشپړ کړي !

که څه هم د نورو لويو ليکوالانو په څير لوي فکر او تجربه نلرم خو بيا مي هم د خپلي پښتني ټولني د اصلاح لپاره خپلي هلي ځلي کړي دي او په راتلونکي کې هم بلها پلانونه ورته لرم تر څو مي انساني او افغاني مسوليت ادا کړي وي او د ټولني د اصلاح لپاره مي يوڅه کړي وي .

ډالۍ :

زما ټولو مينوالو او ددی کتاب لوستونکو ته دې ډالي يي او په خاصه توګه ډالۍ کوم زما محترم استاد عبدلواسع ترين ته چي په هر ډول ستونزمن او مشکل وخت کي يي زما لاس ندي خوشي کړي .

دا ناول مي د خپلي شلمي کليزي په وياړ ليکلي دي يعني ددې کال په روانه ډسمبر مياشت په شلمه نيټه د شلو کلنو سوم او پخپل دغه شل کاله عمر کي مي لاندي کتابونه ناولونه ليکلي دي :

لومړي : ناحقه سزا ناول

دوهم : لارورکي ځوان ناول

دريم : له نړي بهر لس ورځي ناول

څلورم : مجريم ناول

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناول د بشپړ کیدو نیټه :  5/12/2025

د ناول اصلي هدف !

- کله ناکله ژوند داسې تور، غریب او بې‌رحم صحنې جوړوي چې سړی پکې بې‌ګناه مجرم ګرځي.
- دا ناول دا ښيي چې څنګه یو څوک د جرم تور وړي، د ټولنې، قانون، خلکو او حتی خپلې کورنۍ په سترګو کې تور بدل شي، خو دننه حقیقت بل ډول وي.
- او بیا د حق ثابتول، د حقیقت موندل، او د ظلم پر وړاندې جګړه د انسان اعلي مبارزه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

د یو سپیره خړ کلي په تنګو تنګو کوڅو کې څو رنجر موټرونه په بیړه سره روان وه له شا څخه یې دوړې او غبار تاویدل د کلي خلکو په حیرانتیا سره کتل او کوچنیانو خو په موټرو پسې منډه وهل.

موټرونه لاړل او د یو پاخه ښایسته ډېرین کور مخې ته تم شول د موټرونو د شا دوړې ددوي څخه مخکې سوي او ټول موټرونه په دوړو کې پټ سول.

یوه شیبه وروسته د جګ قد لرونکي ځوان له موټر څخه ښکته سو ، توري عینکې یې په سترګو وې او ږیره یې تازه خریل شوي وه.

وروسته د نورو موټرونو دروازې خلاصې سوې عسکر په بیړه ښکته سول ځینو امنیت ونیو او ځینې د خپل قومندان سره یوځای په کور ننوتل،

په کور کې ګڼ شمیر خلګ وه ، د کلي مشران او سپین ږیري ناست او ولاړ وه،

یوه یې نورو ته د خبر په توګه وویل، هغه دي د قضیې څېړونکي راغلي،

ټولو ددی کس په خوا وکتل، قومندان چې د مردانه یې حسن یوه نمونه وه په ډېر درناوي سره رامخکې سو ویل، ددې کور څښتن او هغه ځوان چې جرم یې کړي دي زما سره دي دې کوټې ته راسې، د لاس په ګوته یې یوې کوټې ته اشاره وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو کس چې له رنګه خړ پړ معلوميدي خپله پکړي يي په دواړو لاسونو باندي په سر باندي په دې هدف وښورول چې سمه يي کړي، بيايي دواړه لاسونه په ځمکه ولګول او زور يي کړ په ملا کړوپ سپين ږيري ولاړ سو يوې بلي کوټي ته ننوتي پرده يي د دروازي له مخي پورته کړل،

هلته د کوټي په منځ کي په سپين ټوکر کي اينودل سوي جسد و چې سري ويني يي په سپين ټوکر معلوميدي ، تر څنګ يي يو ځوان سر په زنګون اينودلی ناست و،

سپين ږيری غږ وکړ، زويه راځه چې قومندان راغلي دي موږ بايد ورسو.

ځوان سر پورته کړ ،

بيا يي ترخه مسکا وکړل ويل هو قومندان خو بايد راغلي واي ځکه چي نورالدين به حتماً خبر ورکړي وي.

د سپين ږيری مهرباني او قهر سره ګډ وه خو بيايي هم خپل قهر کابو کړ، ور نږدې شو د هغه په سر يي لاس تير کړ د ډاډ په توګه يي وويل، زه نه پوهيږم چي تاولي داسي وکړل او ولي دې ځان پوليسو ته تسليم کړي خير ته هغه قومندان ته ټوله کيسه وکړه کيداي شي چي ددې موضوع يوه حل لاره پيدا سي.

ځوان بي له دې چي څه ووايي خپلي اوښکی په څادر پاکي کړي خپل پلار ته يي وويل، بابا زه اوس هرڅه خداي ج ته پريږدم ما چي څه کړي دي د هغه سزا به ووينم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوي او پلار دواړه د کوټې څخه بیرون ووتل کله چي خلګو څوان ولیدی نو د حملي کولي کوښښ یي وکړي خو عسکرو یي مخه ونیول،

یوه کس وویل تاسی له سر نه همداسي بیړه او بد خویه خلک یاست موږ خو هسي په کلي کي درته ځاي درکړي و،

بل وویل، د زوي نور کارونه دې بس نه وو چي اوس یي قتل هم وکړي،

همداسي ټولو خلکو د یو بل په پرتله سپکي سپورې ویلي څوان او سپین ږیري دواړه هغه اطاق ته لاړل کوم چي قومندان ښودلي وو.

دا دکلي د یو شتمن او د مقتول د کورني نور الدین خان کور وو چی ډیر مجهز او د هرڅه سهولت پکي موجود و، په کوټه کي قومندان د یو کس سره په خبرو بوخت و هغه د کرام تخنیک څخه و، کرام تخنیک هغهکسانو ته ویل کیږي چې په داسي موضعاتو او قضیو کي د لاسونو د ګوتو نښاني او نور شیان څیړي ،

ځیني کاغذونه په میز باندي و چي پکي ځیني معلومات لیکل سوي و،

قومندان څه شیبه د هغه کس سره خبري وکړي بیایي له پتلون جیب څخه لوي سکرین درلودونکي سمارټ موبایل را وویست او د خپلو ګوتو په ضریعه یي کوم چا ته زنګ ووهه څو شیبي په کوټه کي چوپتیا وه یواځي د تلیفون د ډینګ ډینګ غږ اوریدل کیدي،

وروسته قومندان موبایل په میز باندي په غوسه وغورځاوه په قهر یي هغه کس ته وویل چي معلومات یي ورکاوه، ته اوس لاړ سه او ژر تر ژره روغتون ته دا جسد یوسي ،

هغه کس د کلکي سلامي کولو وروسته کاغذونه ټول کړل او له کوټي څخه ووتی.

قومندان ددوي طرف ته وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه شیبه غلي و او ځوان ته یي کتل، بیایي په تمسخر وویل، راځي راځي مهرباني وکړئ په پښو ولي ولاړ یاست ستړي به سي.

ځوان چي مخکي یي سترګي په ځمکي کي ښخې کړي وي اوس یي سترګي د قومندان سترګو ته واړولي زړه یي غټ کړ ویي ویل، قومندان صاحب هیله کوم له پلار سره مي سمي خبرې وکړی او هغه ته کوم تکلیف مه رسوي.

قومندان څو قدمونه واخیستل د ځوان مخي ته ودریدي پرته له دې چي کوم څه ووایي ځوان یي یوه کلکه سپیره په مخ باندي وواهه، داسي سپیره وه چي د ځوان مخ یي بلي خواته واړاوه.

قومندان وویل، یو خو دي قتل کړي دی او بیا اضافه خبري کوي د ځانه څخه د فلم هلک جوړوي هاا؟

ځوان وویل قومندانه هیله کوم پلار مي هیڅ ګناه نلري.

قومندان یوه بله سپیره ددې ځوان په مخ ووهل.

ویي ویل ، فکر کوم ته ما نه پیژني زه به لومړي ځان درته معرفي کړم، نوم مي قومندان امیر دي دوه کاله کیږي چي په داسي قضیي باندي کار کوم ستا رقم ډیر مجریمینو سره مخ شوي یم خو یوه هم زما سره دداسی خبرو کولو جرئت نه دي کړي.

ځوان د قومندان سترګو ته په کتلو وویل د مرګ څخه هغه څوک ویریږي څوک چي د ژوند کولو امید لري مګر ماخو پخپله مرګ ځانته رابللي دي زه ولي باید وویریږم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندان امیر خبري ته خوله جوړول چي موبایل یي وشرنګید، قومندان دوي ته وکتل بیایي موبایل کي د هلوو غږ وکړي څه شیبه د مقابل لوري خبرو ته غوږ و بیایي وویل سمه ده صاحب همداسي کوم مجرم له ماسره دي اوس به یي قومنداني ته یوسم بیا به ورڅخه ټول اظهارات واخلم.

ځوان او پلار یي یو بل ته وکتل، ځوان وویل، بابا ډاډه اوسه هرڅه چي پیښیږي نور یي کیسه کي مه کیږه ځکه اوس اوبه له سر څخه اوښتی اوس هرڅه یواځي خداي ج ته پریږدم وبه ګورو چي څه کیږي؟

قومندان غږ وکړي، یو ساتونکي کوټي ته راغلي ، امر وکړي امیر صاحب!
ددې ځوان لاسونه اولچک کړي او موټر کي یي واچوي.

هغه هم راغلي او د ځوان لاسونه یي د شا طرف ته کلک اولچک کړل او د ټولو خلکو په منځ کي یي په کشولو سره موټر ته پورته کړي ټولو خلکو په قهر ورته کتل لکه د ټول کلي دښمن یا قاتل چي وي هیڅ چا هم زړه سوي یا د رحم چلند نه کاوه.

پلار یي غوښتل چي په موټر کي د خپل زوي سره قومنداني ته لار شي مګر عسکرو ورته وویل چي اوس مازیګر دی ، دي یواځي اوس نظارت خوني ته وړو او بیا سبا ورڅخه د هرڅه په اړه پوښتني کوو خو تاته ضرورت نشته چي زموږ سره لاړ شي بیا سبا سهار راسه چي د زوي سره دي ووینې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپين ږيرى په اوږه باندي کوم چا لاس کيښود ويل عزيز خانه فکر مه کوه زوي به دي وژغورل شي د الله تعالى څخه د هغه په هکله دعا وغواړه ټول د کور څخه ووتل قومندان امير هم د کوټي څخه ووتي موبايل يي غوږ ته نيولي وو توري عينکى يي بيا په سترګو کړي د موټر دروازه يوه ساتونکي ورته خلاصه کړل موټر ته پورته شو او ټول موټرونه د لومړي موټر په تعقيب سره حرکت وکړ.

ځوان د رنجر موټر په ډله کي د عسکرو په مينځ کي ناست و او د خپل بي وسه پلار خواته يي په ډير شرميدونکي سترګو کتل، پلار يي هم تر هغه وخته ورپسي کتل تر څو چى موټرونه په دوړو او خاورو کي د کلي څخه پناه سوه.

موټرونه تر نيم ساعت مزل کولو وروسته يوي لوي وداني ته ننوتل چي دا ددې ښار امنيتي قومنداني وه او هر ډول لوي مجرمين دلته راوړل کيدل،

ځوان يي د اوږى څخه ونيوئ او له موټر څخه دباندي وغورځاوه يوه بل عسکر په مخ باندي په سوک ووهه ويل ولاړ سه خره.

د ځوان له خولي ويني داري وکړي،

په مايوسي حالت کي ولاړ سو او په کشولو يي يوي توري کوټي ته راوړي چي هيڅ کړکي يي نه درلودل يواځي يو کوچني څراغ ددي لپاره و چي د يو بل مخونه څوک پکي وګوري.

عسکرو وويل دلته کښينه تر څو چى قومندان راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان د خولي لاړي توف کړي د ويني خوند يی په خپله خوله کي حس کړي ځو ځلي يي لاړي توف کړي خو د وينو خوند يي په خوله کي ورک نشو.

بل خوا ددې هلک پلار عزيز خان خپل خړ پړ کور ته راغلي دروازه يي ټک ټک کړل،

په کوڅو کي چي هر کس تيريدو نو په دي سړي باندي به يي خبري کولي او ځيني خو بيخي له حده تيري کاوه او ښکنځل به يي کاوه او هر يوه به ويل چې دا غريبانو چي پيسي نه درلودل نو د نورالدين خان زوی يي د حسد ځخه ووژاه ځکه هغوي ډيری پيسي لري.

عزيز خان دا هرڅه اوريدل خو د ويلو لپاره يي هيڅ نه درلودل يواځي يي دا خبري په زړه باندي تيرولي .

بيايي په ډيره غوسه باندي دروازه ووهل،

له ها خوا يو ښځينه غږ راغلي ويل څوک يي؟

زه يم دروازه خلاصه کړي.

دروازه خلاصه سوه،،

عزيز هم کور ته دننه شو سترګي يي د کور په حويلی کي په خپل ميرمن باندي ورغلي چي په ژړا او فرياد باندي دده وطرف ته راغلل او ځان ئي دده په غيږ کي واچاوه په ژړغوني اواز يي وويل، تا څنګه زما زوي يواځي پريښودي او ولي دي هغه له ځان سره نه راوستي څنګه پلار يي هاا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزیز خان هم کور کي وکتل شاخوا د کلي د ځو کورنو ښځي راغلي وي سړي ورو وويل: ښځي بده ده ته نه ګوري چي زموږ په کور کي نور خلک هم شته نوره دي دا ژړا بس که زه به هغه سبا لخيره خامخا راولم اوس بايد صبر وکو.

عزیز لاړي او خپلي کوټي ته ننوتي هلته په سوچونو او فکرونو کي ورک کښيناستل چي څه بايد وکړي.

ښځو يو بل ته وکتل يوې يي وويل، راځي خويندو لاړي سو بايد ددوي کورني ته هيڅ تکليف و نکړي ځکه دوي ته الله تعالی سزا ورکړه ، په همدی خبرو کي ټولي ولاړی سوي بقري يي په سر کړي او له کوره څخه ووتی.

په ټول کور کي خاموشي خپره وه د خبري کولو ځوک نه وو عزیز او ميرمن يي دواړه په ډول ډول فکرونو کي ناست و يو رقم ذهني شکنجو سره مخ وه.

بل خوا بيا حسن هلته په نظارت خونه کي ناست و او د خپل نامعلوم راتلونکي انتظار يي کاوه.

د ماښام تياري په کلي او ښارونو کي د لمر واکمني ماته کړل او يو ځل بيا په ټوله ښار کي تياره خپره شوه ټولو ته دا شپه هم د تيرو شپو په شان وه خو د عزيز کورني ته ډير بد حالت پيښ و.

کله چي ماښام سو په کومه کوټه کي چي حسن اچول شوي و بلکل تياره شوه ، حتا هغه يو څراغ هم ګل و ، هغه په فکرونو کي ناست و کله به يي د خپل مور فکر کاوه د هغي دعاګاني او مهرباني به يي ياده شوه کله به يي د خپل پلار د عزت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه ژوند فکر کاوه چي ځنګه یی دده څخه دفاع کول او ځنګه یي حسن ته تربیه ورکړي وه.

په همدې فکرونو کې وربانديي سهار سو ، اوس حسن هغه حالت ته رسيدلي و چي هيڅ يي هم نسوه کولاي بلکل چوف ناست و او يو لوي شوک يي ليدلي و.

سهار اته نيمي بجي وي چي د دروازي کړړړ سو ، حسن هماغسي ناست و لکه ځنګه چي ماښام دې کوټي ته راوستل سوي وو ټوله شپه يي په فکرونو کي تيره کړي وه سترګي يي سري وي او ژړلي يي هم وه،

عسکر وويل ،قومندان امير غوښتي يي راځه.

حسن هم پاڅيدي د عسکر په تعقيب روان سو ، قومندان امير په چمني کي د خپل روزل سوي سپي سره لوبي کولي د فوټبال توپ به يي په لغته ووهه بيابه هغه سپي بيرته ورته راوړ عسکر ورغلي او ورته يي وويل چي حسن مي راوستي.

د حسن لاسونه شاته اولچک سوي و او د امير په انتظار کښيناستي ،ځنګ ته يو عسکر په چوکي کښيناستي او ورته يي وويل اي هلکه ته زموږ امير صاحب سم نه پيژني خپله ګناه دې په دې سبب ومنل چي تاته سزا در نکړل سي او يو صادق انسان ځان ثابت کړي؟

حسن له غوسي څخه عسکر ته وويل تاسي څه ډول خلک يي هااا که خپل جرم ومنم هم ناراصه ياست او که يي ونه‌منم بيا هم ناراصه ياست ؟

عسکر په حيرانتيا وکتل، هيڅ يي ونه ويل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندان امیر راغلي،

ورمیږ یي کوږ نیولي و په یو لاس کي یي سګریټ و ، په تمسخر یي وویل زموږ میلمه د خوبه پاځیدي؟

بیا روان سو او امر یي وکړي زما اطاق ته یي راولي.

عسکر حسن تر لاس ونیوئ او و د تحقیق شعبې ته یي راوستي په څوکي یي کښیناوی .

قومندان امیر څه شیبه په موبایل باندي په واټساف کي میسیجونه کول بیایي موبایل په میز کیښود په ځرخیدونکی څوکي کي تاو راتاو کیده.

بیایي یو قلم او یو کاغذ راپورته کړي ویل ، سړیه زه پوهیږم چي تا دا قتل ناحقه ندي کړي نو په دې کاغذ کي هرڅه ولیکه او هغه کس راته وښایه چي ستاسره یي په قتل کي کومک کړي دي ځکه چي د عدلي طب راپور راغلي دي او دا ثابتوي چي دا قتل په دو کسانو سوي دي ،

قومندان امیر غوښتل چي حسن تر خپل تاثیر لاندي راولي .

حسن ویل دا لاسونه خو مي خلاص کړي.

امیر اشاره وکړل یو عسکر د حسن لاسونه خلاص کړل د اولچک د تنګوالي له امله د حسن په لاسونو باندي اولچک خپلي نقشي پریښودلي وي ، حسن لاسونه تاو تاو کړه تکلیف یي له ورایه په مخ کي معلومیدي.

بیایي وویل ، څه ولیکم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولي تا نه واوريدل چي ما مخکي څه وويل، بايد خپل جرم وليکي او هغه کس هم بايد راته وښايي چي تا سره يي مرسته کړي ده او دليل يي هم وليکه چي ولي دي خالد وواژه ټوله کيسه مفصله وکړه تر څو چي هم موږ او هم دې ځان له دې جنجاله خلاص کړي.

خو زه په دې نه پوهيږم چي تا ولي دا قتل په تور ځان پوري يوائې تړي دي يوه کيسه خو سته چي زه نه يم خبر ، زه ستاسي کورني پيژنم تاسي بد خلک نه يي نو ولي بيا نن داسي يوه پيښه وشوه او هغه هم ستاسي د کورني څخه؟

حسن يوه شيبه سپين کاغذ ته وکتل بيايي وويل قومندان اميره فکر نه کومه چي ته به زما سره بي انصافي وکړي او په زوره به کوم کار راباندي وکړي خو صرف دومره وکړه چي زما خبري يوځلي په ډير غور سره واوره کله چي ته په حقيقت پوسي نو خپله به حيران شي.

قومندان امير خپل لاسونه لوړ وغځول لکه خپله ستړيا او ستوماني چي باسي بيايي وويل ، هممم رښتيا دي وويل زه دومره هم ظالم نه يم ، زه ستاپه تا باندې هيڅ ډول زياتي نه کوم خو دومره وکړه چي ټوله کيسه راته وکړه.

قومندان امير زياته کړه ، اورم يي، او هو کله چي چاي يا کافي نه وي نو زه هيڅ د اوريدلو حوصله نلرم ته هم چاي څښي؟

حسن، هو څښم يي ځکه ماخو ماښام هم څه ندي خوړلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همممم عسکره ورسه دوه پيالې چاي او بيسکوټ راوړه چي زه د خپل ميلمه ځخه اوس کيسه اورم.

عسکر هم لاړي،

قومندان امير حسن مخاطب کړ ، ښه نو اورم يي خو پام کوه هيڅ درواغ راته ونه وايي ځکه د درواغو سره سخت مخالف يم او کيسه له سره ځخه راته وکه هله نو....

حسن په کيسه شروع وکړل....

زه د عبدالعزيز خان مشر زوي يم يوه خور چي نوم يي هيله و هم ما درلودل چي هغه له ما ځخه کشره وه.

موږ ډير شتمن و په کلي کي مي پلار يو لوي نوم درلود د کلي هر مشکل چي به پيښ سو خلګ به د کلي د ملک په ځاي زما پلار ته راغلل او ويل به يي چي عزيز خانه زموږ مشکل حل که او زما پلار به هم ور سره مرسته کول.

پلار مي په ما باندي ډير ټينګار کاوه چي زه هم د هيلي سره يوځاي لاړ سم او درس ووايم خو ما له ماشومتوب ځخه د درس سره هيڅ مينه نه درلودل ځکه زه هغه ځوک وم چي تل به د خپلو ملګرو سره وم زما کور ته نږدي زما د يو ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور و او پلار يي هم زما د پلار ملګري و د هغه کس نوم نورالدين خان دي او اوس هم ژوندي دي د هغه زوي خالد زما يو تينګ ملګري و هر ځاي به سره يوځاي و او هرڅه هر راز به مو سره شريک و زموږ د ملګرتيا لس کاله کيدل يو بل ته ډير ګران و.

دکلي د نورو هلکانو به زموږ سره حسد پيداکيدي ځکه زه او خالد داسي وو لکه تن او روح د يو بل څخه يواځي په مرګ جلا کيدو او همداسي ژمنه مو هم کړي وه خو زموږ مشکل دا و چې د خالد دوي اقتصادي وضعيت زموږ تر اقتصادي حالت ډير خراب و ځکه د خالد پلار يو بزګر و او زما پلار يو لوي تاجر و چي په ښار کي يي هم لوي نوم درلود.

داخو زموږ تير وخت و ، بيا وروسته زما پلار او د خالد پلار سره په شراکت کار پيل کړ د هغه په ضريعه باندي د خالد دوي اقتصاد هم ښه سو او د بل چا د محتاجي څخه خلاص سول د خپل کور څښتنان سول.

اوس به نو اصلي کيسي ته راسم، کله چي حسن اصلي کيسه شروع کول نو د شعبی دروازه ټک ټک سول، قومندان امير په غوسه وويل راځه سوک يي؟

دروازه خلاصه سول يو عسکر په پتنوس کي بيسکوټ او چاي راوړ ويل دادي امير صاحب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندان امیر مننه وکړل سګریټ یي په میز باندي مړ کړ یو بیسکوټ یي د حسن مخي ته کیښود او بل یي ځانته کېښود بیایي حسن ته په نیم کښو سترګو وکتل ته ولي چوپ سوي ادامه ورکړه.

حسن هم خپله کیسه بیرته شروع کړل.

یوه ورځ خالد ډیر ټینګار وکړي چي ددوي کور کي زه د میلمه په توګه ورسم ما نه غوښتل چي ورسم خو خالد ډیر ټینګار کاوه او غوښتل یي چي ورسم.

نو ماهم په دي سبب ومنل چي خالد خفه نشي او و مي ومنل چي سمه ده درځم خو ډیر وخت نه تیروم ځکه چي پلار مي ماښام وختي کور ته راځي او بیا راته غوسه کیږي د شپي لخوا اجازه نلرم چي د کوره ووځم.

ویل سمه ده .

زه هم لاړم او کور ته روان شوم په لاره کي مي د یو دوکان څخه څه سودا هم وکړل ځکه چي زما خور هیلي به هره ورځ راڅخه یوڅه غوښتل نو ما هم ځان نه سپموي.

کور ته راغلم هیلي ښه د چرګ شوروا پخه کړي وه بوي یي سیده زما سږمي ته راغلي او باید ووایم چي هیلي خور مي داسي شوروا پخول چي هر څومره به سوک موړ واي او اشتها یي نه درلودلاي خو بیابه یي هم د هیلي د لاس شوروا خوړل ، زموږ کورني ډیره نیکمرغه وه دهیلې په لاس کي دپخلي کولو یو جادو و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هم ورغلم ، هیله په آشپزخانه کي بوخته وه او د دیک بخار سر خلاص کړ شوروا يي په وچه ډوډي باندي چپه کړل ویل حسنه راغلي؟

ما په شوخ انداز ورته وویل نه اوس هم په لاره کي یم.

دواړو وخندل ویل زما سودا دي راوړي ده کنه؟

ومې ویل نه هغه خو مي هیره کړل او اوس خو ماښام کیدونکي دي بیا نسم ورپسي تللي.

په ګیله منده لهجه يي وویل حسنه مه مي زوروه هله ژر يي راکه ، ما چي یو لاس شاته نیولي و ، نو مي همدومره ټوکي مناسبې وبللي او د شا له طرف نه مي د هیلي د سودا کڅوړه ورکړه، هیلي وویل همممم پوهیدم چي راوړي مننه کوم وروره.

همممم سمه ده اوس نو دا ادبیات کور کي راته مه کاروه.

راغلم د خپل پلار کوټي ته ، مور مي لمونځ کاوه او پلار مي هم په تلاوت بوخت و، کله چي يي زه ولیدم ویل زویه تا د مازیګر لمونځ کړي دي؟

زه غلي وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرته یي خپل تلاوت پیل کړ زه هم په شرمیدلي حالت کي له کوټي ووتم بیرته د هیلي خواته لاړم هغي پتنوس را اخیستي و او د آشپزخانه په خوله کي سره مخ سو ما ویل هیلي دا وخت نو اوس د ډوډي دي اوس خو لا مازیګر دي دا نو څوک خوري؟

هیلي وویل ، دا مي د مور لپاره تیار کړي ده ځکه هغه تر نن ماپښین پوري ناروغه وه غرمه یي هم څه نه وو خوړلي نو اوس مي ورته شوروا چمتو کړي ده.

ما د هو په دود سر ښکته پورته کړي ومي ویل، هیلي زه نن ماښام د خالد دوي کور کي میلمه یم نو تاسي بیا ډوډي وخوري زما نتظار مه کوئ.

هغه خو سمه ده مګر تا بابا ته ویلي دي کنه؟

نه هغه ته خو مي ندي ویلي مګر ته هم مه ورته وایه ځکه چي زه ماښام بیرته ژر راځم .

وګوره که چیري ته ماته دروا‌غ وایي نو زه دي بابا ته حال وایم.

نه داسي خبره نده زه به ولي تاته دروا‌غ وایمه هاا؟

سمه ده ورسه خو بیا ژر راسه ځکه چي بابا بیا خفه کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده ته خو داسي خبري کوي لکه ته له ما څخه مشره يي خوري.

زه هم په هماغه مازديګر باندي له کوره ووتم د خالد نمبر ته مي زنګ ووهه هغه ويل چي اوس نه کيږي ځکه کور کي يي نور ميلمانه دي نو د ماښام تر لمانځه وروسته بيا ورتللې سم.

ماهم د يو بل ملګري سره  چي احمد نوميږي وخت تير کړي او تر ماښامه پوري په تمعه سوم هغه ملګري مي د ماښام لمونځ ته لاړي او زه د خالد دوي د کور په لوري لاړم د خالد دوي کور زموږ له کوره څخه ډير ليري نه و فقط څو کوڅي اوسړکونه مو ترمنځ وه پلي لاړم يو انرژي مي هم د ځان لپاره واخيستل.

په لاره کي مي بيا ورته زنګ ووهه خو موبايل يي غلي و، په لږ وخت کي د خالد د کور مخي ته راغلم نه پوهيدم چي اوس څه وکم نو مي دروازه په دى فکر ټک ټک کړه چي خالد به زما څخه مخکي کور ته راغلي وي.

دروازه خلاصه سوه خو د خالد پلار نورالدين کاکا و ، ويل حسنه زويه څه کوي دا وخت ،  انشاالله چي خيرت به وي؟

ما ويل ، هو کاکا هغه خالد پسي راغلي وم هغه کور کي دي؟

نه زويه هغه اوس دلته نسته ځکه ما په سودا پسي ليږلي دي ويل يي چي ژر راځي خو نه پوهيږم چي ولي يي دومره ځنډ وکړئ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومي ويل ، خير زه به بيا وروسته راسم اوس به لاړ سم.

ته صبر زويه زه وهغه دوكاندار ته زنګ ووهم هغه زما ملګري دي هغه به يي حال راكړي د خالد موبايل خو بند دي.

سمه ده كاكا جانه.

نورالدين لاړي او خپل موبايل باندی يي په كور كي د دوكاندار سره خبري كړي وي او بيرته راغلي ويل زويه ته كوټي ته راسه خالد په لاره كي دي ما ورسره خبري وكړي هغه وخت په دوكان كي و ، ژر راځي او هغه دا هم راته وويل چي ته زموږ ميلمه يي نو راځه دننه راسه تر هغه وخت پوري چي خالد راځي زه به درسره په كوټه كي كښينم.

ما هم څه ونه ويل او كور ته دننه سوم ددوي كور له خټو جوړ او ساده كور و زموږ تر كور بهتر نه و.

كوټي ته يي بوتلم هلته په كوربچه باندي كښيناستم نورالدين كاكا ويل زويه زه ځم چي درته چاي راوړم.

ما ويل كاكا جانه تكليف نه دركوم يواځي دلته د خالد انتظار كوم هغه به راسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه زویه هیڅ تکلیف ندي اوس به یي راوړم .

نورالدین لاړي او زه په خونه کي یواځي پاتي سوم ، لږ وخت وروسته د قدمونو غږ سو ، نورالدین بیرته راغلي او شنې چاي یي راوړ، زما هم چاي ډیري خوښي وي نو د چاي د راوړولو سره سم مي ورڅخه یو ګیلاس نورالدین او یو ګیلاس ځانته ډک کړ، ماچي اوس خبري ته خوله جوړول نورالدین ته زنګ راغلي نو مې خوله بیرته ونیول، هغه موبایل ته جواب ورکړ د سلام کولو وروسته یي وویل څه شوي دي؟

څه شیبه د مقابل طرف خبرو ته غوږ و بیایي وویل سمه ده زه همدا اوس درځم او تر ماخستن پوري دا مسله حل کوم ، دخداي په امان.

ټلیفون یي قطع کړي ویل حسنه زویه ماته یو کار پیښ سو نو ځکه اوس زه باید لاړ سم خالد هم په لاره کي دي اوس به راسي.

ما ویل کاکا جانه خیرت خو دي څه وسوه؟

ویل هو زویه هیڅ نه ، بس یوڅه پیسي مي په یو چا پسي باندې دي نو اوس ورځم او ورڅخه اخلم یي.

ما هم څه ونه ویل نورالدین خپل ډک ګیلاس چاي پریښودي او لاړي دکور څخه ووتی د موټر سایکل غږ یي هم ورک سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما هم خپل او هم هغه دوهم ډک ګیلاس چاي وڅښي په خپل ټلیفون باندي مي ګیم کاوه او دخالد په انتظار وم.

یو ځلي بیا کوټي ته نږدې د یو چا د قدمونو ږغ سو ما ګیم تم کړي او د دروازي په لوري متوجي سوم، خالد و ، د سترګي مسي وروسته مي وویل یاره موبایل دي ولي بند کړي دي؟

هغه ویل چارج یي خلاص کړي دي اوس به لاړ سم او چارج به یي کړم ، ددې خبرو په کولو سره ولاړ سو او د خپلي کوټي په لوري لاړي، څه شیبه بیا زه یوازي وم خو خالد راغلي مګر له لیري څخه ډیر نا ارام معلومیدی په کوم مخ چي تللي و بیرته په هغه مخ نه و راغلي.

نو ما پوښتنه وکړه، خالده څه کیسه ده مخ دی ولي داسي پنچر نیولي دي؟

ویل یي نه وروره خیرت دي هیڅ کیسه نده!

ما ویل خامخا به راته وایي زه پوهیږم چي یوڅه سوي دي؟

خالد وویل ، حسنه یاره خور مي بیخي ډیره زیاته ناروغه ده او پلار مي هم نسته نه پوهیږم څه وکم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وویل، دا نو اوس د اندیښنې خبره ده ته په ما باندي باور نلري چي ندي‌راته ویل ؟

هله نو ورسه ورته ووایه چي کار سم کړي روغتون ته به یي زه بوځم او د پلار موټر به راولم.

خالد ویل نه یاره تاته تکلیف نه درکومه.

په غوسه مي وویل ورسه هله نو وخت مه ضایع کوه زه ځم او موټر راولم.

خالد نور هیڅ ونه ویل ما خپل ډک ګیلاس چاي پرېښودي او د خپل کور په لوري راغلم ، دروازه هیلي راته خلاصه کړل په تنظیه لهجه یي وویل ولي هلته یي ډوډي درنکړل چي داسي ژر راغلي؟

هغي ته مي په غوسه وکتل خو دا دخبرو وخت نه و ورته ومي ویل بابا ویښ دي؟

ویل هو ویښ دي مګر څه سوي دي ولي داسي تلواري یي؟

ومي ویل هیڅ نه بس د خالد خور شبانه ناروغه ده هغه باید روغتون ته یوسم او ته ورسه د بابا څخه دموټر کیلي راته راوړه چي ولاړ سم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیله ډېره نرم زړي انجلۍ وه ویل اهاا زما خورکي شبانه ناروغه ده او زه خبر نلرم په بیړه ورغلل او د موټر کیلي یي راوړل کله چي مي موټر چالان کړ بابا له کوټي راپسي ووتي ویل صبر وکه،

زه هم ودریدم ویل حسنه زویه نورالدین خبر دي چي لور یي ناروغه ده؟

ما ویل نه هغه ښار ته تللي دي او موبایل یي هم بند دي.

بابا مي لږ شیبه فکر وکړئ بیایي وویل، زویه ورسه خو بیا حال راکه اوهوګوره دا پیسي درسره واخله اړتیابه مو پیداشي په جیب یي لاس ننباسي او یوڅو زرګونه یي هم راکړل ما هم ورڅخه مننه وکړل او په بیړه راغلم د خالد دوي کور ته.

هرنګ مي د کور مخي ته ووااهه خالد له کوره را ووتي ویل یاره دشباني حالت ډیر خراب دي یواځي یي نسم راوړي، مور مي هم مرسته نسي راسره کولاي ځکه هغه سپین سرې ده، ما ویل نو څنګه وکم؟

ویل راسه ته یي راسره تر موټر پوري راوړه.

زه هم ورکښته سوم کور ته دننه ورغلم دخالدمور یي سرته ناسته وه ژړل یي ویل زویه زه هم درسره ځم ما ویل مورې راځي تاسي هم هله نو ،

شبانه چي په توس کي وه له درده یي اه او اه کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد ته مي وکتل هغه ويل ونيسه پورته کوو يي، له هغي ښځه يي توس ليري کړي د هغي سپين مخ ښکاره سو چي غټي غټي خړي سترګي يي له اوښکو ډکي وي د راسته طرف د پښتې لاندې يي لاس نيولي و او ډيره په تکليف وه ما او خالد له پښو او لاسونو ونيول تر موټر پوري مو يوړه دخالدمور هم راسره وه تر روغتون پوري ډيره لاره وه ځکه روغتون په کلي کي هيڅ نه و.

نو مي په موټر پسي پښه ووهل په يو سل شل کي روان و او په څو دقيقو ښار ته راغلو هغه عالي درجه روغتون ته مو راوستل تذکره راوړل سوه او ناروغ يي يوړو موږ هم ورته په انتظار کې پاتي سو، خالد او د هغه مور ته مي د زړه ډاډ ورکاوه ويل مي هيڅ نه کيږي صبر وکړي اوس خو روغتون ته راغلو.

موبايل مي وشرنکيد د موبايل سکرين ته مي وکتل هيله وه ځواب مي ورکړ هغی ويل چي بابا وايي څنګه سو روغتون ته لاړاست؟

ما ويل هو روغتون ته راغلو او هغه په عاجل واټ کي ده ډيره په تکليف وه.

هيلي وپوښتل، په شبانه باندې څه سوي وه؟

ومي ويل ولا نه پوهيږم خو د راسته پښتي لاندي يي درد محسوس کوي فکر کوم چي په معده به يي درد و!!

هغی وخندل ويل بي سواده هلکه معده راسته طرف ته نه وي چپه طرف ته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومي ويل بس نو اوس دی خپل ځان راته مه ثابتوه زه پوهيږم چي ته تعليم يافته يي خو اوس دا راته ووايه چي ولي يي هلته لاس نيولي وو؟

هغی ووېل زه خو دومره نه پوهيږم خو زما په آند افنډکس به وي ځکه افنډکس داسي ناروغي ده چي ډېر زيات درد پکي محسوس کيږي.

ما چي افنډکس نه پيژندي نو مي وپوښتل افنډکس بيا څه دي؟

ويل چي ته د ټول مکتب استادانو پو نکړي نو زه به تا څنګه پو کړم؟

په غوسه مي وويل سمه ده موبايل دي بند که.

تر نيم ساعت پوري انتظار و اخير ډاکتره راغلل ويل د انديښني خبره نده ناروغه مو افنډکس وه که چيري مو تر څو ساعتو پوري نه وه راوستلي نو کيداي سوه چي دا کولمه هلته چاودلي واي او دناروغ ژوند له ګواښ سره مخ کيدي خو د خداي شکر دي چي تاسي په وخت راغلي او ناروغ وژغورل سو.

دلته نو د هيلي د درس په ارزښت پو سوم رښتيا هم څنګه چې هغي ويلي وه شبانه افنډکس وه او ډاکټري هم تاييد کړه.

د خالد مور په ژړغوني اواز وويل حسنه زويه خداي دې تاته لوي عمر درکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ویل مورې کومه خبره نده ما څه ندي کړي خداي ستاسي لور وژغورل.

خالد چي هرڅه خپل پلار نورالدین ته زنګ واهه مګر د هغه موبایل غلي و او هیڅ یي زنګ نه تیراوه.

ډاکټري ویلي وه چي ناروغ باید تر سهاره پوري همدلته وي ځکه چي عملیات کړي موده نو ژر اجازه نه ورکوو چي تاسي یي کور ته یوسي.

خالد او مور یي د شبانه د لیدو لپاره دننه ورغلل خو زه دباندي پاتي سوم، څه شیبه ولاړ وم د ځان سره مي فکر وکړي چي ما ددوي سره دومره ښه وکړل خو دوي وګوره زه یي دلته یواځي پریښودم زه یي هم باید هلته ور بللي وم.

اصلا زما دا ګیله په دي سبب نه وه چي زه یي ولي یواځي پریښودم بلکي په دې سبب وه چي ما باید شبانه لیدلي واي ځکه د هغي لیدو ته مي یو ډول تلوسه پیدا سوه د هغي هغه د ناارامي څهره مي په ذهن کي ثبت وه هر طرف ته به مي چي کتل نو د شبانه هغه ښایسته او د ګلاب په څیر مخ به مي په هغه عذاب کي لیده.

د هغې دسترګو اړول او را اړول ، بس څه ووایم خو د هغې تصویر مې په حافظه کي ثبت سو نو له ډیرې غوسي څخه د روغتون څخه ووتم او لاړم موټر کي کښیناستم فکر مي وکړي چي څنګه یي باید ووینم خو هیڅ مي ذهن ته نه راغلل په دې وخت کي خالد راته زنګ ووهه، په غوسه مې وویل ، څه دي؟

ویل وروره خیرت خو دي ولي دومره غوسه یي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ویل اوس دا خبره ایله کوه خور دې څنګه ده؟

شکر دي هغه بیخي ښه ده اوس نشو کولاي چې لاړ سو سهار یي بیا کور ته وړو.

ومې ویل سمه ده زه اوس په موټر کي یمه او خپل کور ته ځم تاسي بیا که هرڅه غوښتل راته یي ووایه.

موبایل مي بندکړ او هغه پیسي چي مي پلار ددوي لپاره راکړي وی هغه مې هم هیري سوي او کورته راغلم.

هیله تر اوسه پوري راته وینه ناسته وه ویل وروره شبانه څنګه سوه؟

ومې ویل هغه اوس ښه ده عملیات یي ورته وکړي او سبا سهار یي بیرته کور ته لیږي.

هیلي وویل تابه ډوډي هم نه وی خوړلي نو زه به درته ډوډي راوړم ؟

ومې ویل ، نه زه بیخي موړ یم او هیڅ اشتها نلرم ددې خبري په ویلو سره لاړم او خپل بستر کي وغځیدم مګر خوب قسم کړي و ، بس پروت یم او پروت یم سترګو ته مي د شبانې هغه رنځوره څهره مخته مخته کیدل کوښښ مي وکړي چي خپل فکر کابو کړم او ځان باندې کنټرول راولم مګر دا کله امکان درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پوهيدم چي څومره وخت به وتلي و ساعت ته مي نه و کتلي بس انتظار مي له توان څخه ووتي او موبايل باندې مي خالد ته زنګ ووهه، هغه هيڅ جواب نه راکړي بيا ځلي مي زنګ ووهه تر دوه درى ډينګ ډينګ وروسته يي په په ورو ږغ وويل بلی!!

ما ويل خالده ياره موبايل ولي نه پورته کوي هاا؟

خالد وويل ورورره د شپي دري بجي دي ، ويده وم خو دا راته ووايه چي ولي دي په دې وخت کي زنګ وهلي دي دلته ټول ويده دي خبري هم درسره ډيري نسم کولای؟

ما موبايل له غوږ څخه ليري کړ د موبايل سکرين روښان سو ساعت ته مې وکتل ريښتيا هم د شپي دري بجي وي په شل بالا ، موبايل مي بيرته غوږ ته ونيوئ ما ويل ورورره ريښتيا ساعت ته مي فکر نه وه وبخښه ، خو هغه پيسي چي مي پلار ستاسي لپاره راکړي وي هغه مي هيري سوي دي ما ويل چي ستاسي به ورته اړتيا پيداشي ايا اوس يي درووړم؟

خالد وويل ياره ته ليوني شوي يي ، که تاته خوب نه درځي موږ خو خوب ته پريږده دا وخت نو اوس د پيسو ورکولو دي؟

په تنظيه لهجه مي وويل سمه ده لوده خو سهار وختي راځم او هغه پيسي درکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موبایل مي قطع کړي او خپل ځان ته مي غوسه راغلل ، ځکه چي دا وخت ریښتیا هم د زنګ وهلو نه و خو زما سره د شبانې اندیښنه وه نو ځکه مي د پیسو ورکولو پلمه وکړل .

دا شپه هم تیره سوه !

سهار اوه بجي د ځاي څخه پورته سوم ویښتان مي ږمنځ کړل هغه نوي عطر چي مې ماما راته له عمرې څخه راوړي و هغه مي ووهل او خالد ته مي زنګ وکړي.

ویل هلو !

تر روغ بږ وروسته مي وویل هلکه له روغتون څخه رخصت شوی کنه؟

ویل نه ولا تر اوسه پوري خو روغتون کي یو او د ډاکټر مشورې ته منتظر یو.
ما ویل زه هم راځم کوم څه خو به نه غواړي چي درته رایي وړم؟

ویل نه مننه کوم .

موبایل مي قطع کړي له کوټې څخه ووتم پلار مي د کور په برنده کي ولاړ و او د لمر د تودوخي څخه یي خوند اخیسته ، موټر ته دختلو په وخت یي وویل زویه ته د شپي راغلي یي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو بابا د شپې ناوخته راغلم ځکه نور زما ضرورت نه و هلته .

دروازه يي په ځان پسي ووهل موټر يي چالان کړ ويل راځه چي يوځاي روغتون ته لاړ سو يو خو به مو د مسلمانۍ حق ادا کړي وي او بل به مو ريښتيني ملګرتيا تر سره کړي وي.

ما هم يواځې پلمه غوښتل چي هلته لاړ سم نو مي ورغبرګه کړل ، سمه ده بابا جانه مګر کاش چي زه يواځې تللي وم په دې سبب چي نورالدين کاکا هلته نسته او پخپل لور هم ندي خبر چي څه ورته پيښ سوي دي ؟

نو زما فکر دادي چي ته د نورالدين په لټون پسي لاړ سي او ما د روغتون مخي ته يوسي.

پلار مي وويل ولي نورالدين ته څه پيښه ده؟

ولا نه پوهيږم بابا خو د پرون څخه يي موبايل هم غلي دي او کور ته هم ندي راغلي نه پوهيږم چي په کومه بلا اوښتي دي.

پلار مي څه شيبه په فکر کي سو بيايي وويل ، حسنه زويه ددی سړي يعني نورالدين ورکيدل بيله کومې پيښي ندي .

خير خداي دي موږ او دوي ته خير پيښ کړي زه يي مخاطب کړم ويل ، د کور دروازه خلاصه که چي موټر دباندی وباسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هم ورغلم دروازه مي خلاصه کړل د موټر د وتلو وروسته زه هم د بابا موټر ته پورته سوم د روغتون په لوري لاړيو ، څنګه چې ما ويل زه يي د روغتون مخی ته ښکته کړم او پلار مي د نورالدين په لټون ښار ته لاري د لاري او کرايي پيسي يي هم راکړي .

زه په بيړه د روغتون لوي صالون چي اوس هم پکي څراغونه روښانه وه او يو ډول د ډيټول بوي و ، ورغلم د خالد دوي په کوټي پسي ګرځيدم بلاخره مي پيدا کړه نو مي دروازه ټک ټک کړه زړه مي درزيده نه پوهيدم چي څنګه د شبانې سره وګورم ځکه يواځې د هغی د حال پوښتل راته بس نه وه او نه يي زما زړه ته تصلي راکولاي شواي نو ځکه غوښتل مي چي پخپلو سترګو يي د سپين مخ ديدار وکړم.

دروازه خلاصه سوه ، خالد و، تر سترګي مسي وروسته يي وويل راځه چي په باغچه کي کښينو، دا يو شخصي روغتون و چي دري پوړه او وداني يي درلودي د روغتون په منځ کي يوه وړوکي باغچه وه چي خلګو به د هغي څخه د انتظارګاه کار اخيستي او هم يي د هوا په صفايي کي رول لوباوه ، ما هم څه ونه ويل او ورسره روان سوم خو د باغچي نه مخکي مي خالد د روغتون کانتين ته يوړي ځکه نه ما او نه هم خالد د سهار ناري کړي ؤ ، نو مي ځيني ډول ډول بيسکيټ او انرژۍ واخيستل بيا لاړو او د باغچي په يوه څوکي کي کښيناستو ومي ويل ، خالده د خور حالت دي اوس څنګه دي؟

خالد د کڅوړي څخه يو بيسکيټ واخيستل د هغه د خوړولو په وخت يي وويل ښه ده ته انديښنه مه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيره دي نه وي چي زما ملګري خالد هغه د چا خبره ډير خر طبيعته انسان و ځيني وخت به يي خپل کنټرول بيخي د لاسه ورکړي يو رواني او نه راګرځيدونکي سړي و، په دی وخت کي زه د خالد په حالت پو سوم که چيري مي د شبانې په اړه نورې پوښتني کړي واي نو خالد کيداي سوه چي خپل کنټرول له لاسه ورکړي واي نو ځکه مي په همدي يوې پوښتني کفايت وکړي او نور څه می ونه ويل ، څه شيبه غلي دواړه ناست و يواځي مو د مرغانو اوازنو ته غوږ نيولي و مګر زما کله بي له پوښتنو طاقت کيدي بيا مې  وويل ، خالده پلار دی ولي نسته هغه چيري دي ايا تاسي ته يي دتللو نه مخکي کوم څه ونه ويل؟

خالد سترګي لاندي په ځمکه ګنډلي وي بيايي يي په غوسه وويل ، داپوښتنه خو بايد زه وکړم ځکه چي له پلار سره مي ته وي او کله چي زه کور ته راغلم تاويل چي بابا لاړي او زنګ ور ته راغلي ؟

يوځلي بيا په دواړو باندی چوپتيا غالبه سوه .

نه پوهيدم چي د خالد ددې خبري ځواب څنګه ورکړم که ريښتيا ووايم نو د خالد په دی خبره باندي لږ څه غوسه هم راغلل او بل دا چي مامي شبانه هم نسوه ليدلي ،

نو مي وويل خالده راځه چي ستا مور دوي ته هم د سهار ناري لپاره کوم څه واخلو هغوي به هم څه نه وي خوړلي ، خالد هم څه ونه ويل يواځي يي د هو سر وښوراوه .

د کانتين څخه مي ځيني نور شيان واخيستل او د روغتون د وداني په لوري روان سو کله چي هلته ور سيدو قريبه وه چي کوټي ته ننوځو په دې وخت کي د خالد څخه هغه کڅوړه ولويده کومه کي چي بيسکيټ انرژياني او نور خوراکي توکي وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ومي کتل خالد د يو درب سره په ځمکه ولويدي ور منډه مي کړه د هغه سترګي لوړي ختلي وي د لاسونو ګوتي يي پيچلي وي تر خولې يي ځګونه راغلل او يو ډول خرړهارې يي په ځيګر کي کاوه، په بيړه مي نرسانو ته غږ وکړي هغوي راغلل پورته يي کړي ټولو خلکو په حيرت ور ته کتل، نه پوهيدم چي څه وکړم ايا د خالد مور ته خبر ورکړم کنه؟

خو دا مي مناسبه ونه ګڼل چي د خالد مور ور باندې خبره کړم ځکه هغه ښځه وه د دوو غمونو سره يي مقاومت نسو کولاي نو مى ځان عادي ونيوئ او د کوټې دروازه مي ټک ټک کړه، چا خلاصه نکړل بياځلي مي په زور سره ووهل ، وروسته له يوې شيبې دروازه خلاصه سوه د خالد مور په دروازه کي ولاړه وه په مخ يي د خوښي علامي وى ، پوسوم چي د شبانې حالت تر پخوا ښه سوي دي.

د خالد مور په سواليه نظر راته وکتل لکه کوم څه چي واي خو هيڅ يي ونه ويل او د خبري کولو نوبت يي لومړي ماته راکړي، ما هم ورته د خوراکي شيانو کڅوړه ونيول زياته مي کړه ، مورى دا ځيني خوراکي شيان دي تاسي به څه نه وي خوړلي نو دا وخورى که مو بل څه ته اړتياوې هم ووايي!

هغى زما له لاس څخه کڅوړه واخيست او ويي ويل زويه خداي دي لوي عمر درکړي بل څه نه غواړو خو دا راته ووايه چي خالد چيري دي؟

دلته مي نو هغه خبره ياده سوه چي وايي ، درواغ ماتې پيسي دي هر وخت خپل لاس ورباندي خلاصوه، نو مي وويل ، موري هغه تللي دي چي د ډاکټري سره د شبانې په حالت خبري وکړي او ټوله دوسيه يي پاى ته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور يي هيڅ ونه ويل دروازه يي بنده کړه زه بيا يواځي پاتي سوم او شبانه مي هم ونه ليده، د هغی د مور څخه مي هم پوښتنه نسوه کولاي ځکه چي د شرم او خجالت احساس مي کاوه.

لاړم په صالون کي پرتي څوکي څنډه کي کښيناستم د روغتون چاپيرياڵ مي تر نظر تيراوه بيا مي په يو کس سترګي ولګيدي چي ناروغ يي په عاجل واټ کي تر عملياتو لاندي و نو دا ځوان ناست و ، سترګي يي له اوښکو ډکي وي لاسونه يي پورته د دعا لپاره نيولي وه ، شونډان يي ژر ژر ښوريدل دلته نو پوسوم چي تر مسجدونو د روغتون ديوالونو ډيري دعاګاني اوريدلي دي ،

هر کس دلته د زړه له تله الله تعالی يادوي هغه ذات ډير نږدې ځانته احساسوي مګر دغه کس که چيري يو ګناه کوي بيا له ځان سره فکر کوي چي الله تعالی له ده څخه ډير ليري دي .

څه شيبه مي ددی کس په لمدو سترګو او درديدلی زړه کي فکر کاوه چي ناڅاپه مي مخي ته يو نرس ودريدي ، ويل ځوانه راسه ډاکټر محمود دي غواړي ،

زه هم د نرس په تعقيب تر ډاکټر پوري لاړم هلته د ډاکټر مخي ته يو ميز و ځيني کاغذونه ايکسري عکسونه او ځيني نور داسي شيان وه چي تر اوسه پوري ما نه وه ليدلي ، تر سلام ويلو وروسته مي وويل ډاکټر صاحب زما سره څه کار لري؟

هغه خپلي لوي عينکو له سترګو څخه ليري کړي ويل وروره دا ستاسي ناروغ له کوم وخت څخه نشه کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې خبري په اوریدو مي وخندل ومي ویل ، ډاکټر صاحب ته غلط سوي یي یا به نرس تیروتنه کړي وي ، زموږ ناروغ خو هیڅ نشه نه کوي او عملیات یي هم کامیاب تر سه سول .

ډاکټر د سترګو تر کونجو نرس ته وکتل د ډاکټر ددي کتلو هدف دا و چي ایا ریښتیا هم موږ غلط سوي یو؟

نرس را مخکي سو ویل وروره موږ نه یو غلط سوي دغه ناروغ چي خالد نومیږي اوس ستاسره یوځاي د روغتون په صالون کي ، نرس چي خبره پوره کول ما وویل ښه ښه پوسوم خالد یادوي ، هو هغه زما ملګري دي او نه پوهیږم چي څه ور باندي وسول ناڅاپه بي سده سو؟

ډاکټر زه مخاطب کړم ، ستاسو په ناروغ باندی یوه دماغي حمله راغلیده ، زموږ تر څیړنو وروسته دا معلومه سوه ، دا کس چي خالد نومیږي نشې کوي او داکس رواني ناروغي لري ، داسي ناروغانو ته چي د غم یا ډیري خوشحالي په وخت کي نشه ور پیدانشي نو په دماغ یي ډیر فشار راځي او بلاخره خپل واک دلاسه ورکوي ، څو کاغذونه یي راته ونیول ، ویل دغه یي معاینات دي ، بیایي په سپین کاغذ باندي په چټکي سره قلم وځغلاوه څو کرښي یي ولیکلي هغه کاغذ یي هم راکړي زیاته یي کړه دغه درمل به ورته رانیسي په وخت یي باید وخوري او څومره چي کیږي باید ناروغ ارام وکړي دهیڅ اندیښني ضمینه ورته مساعده نسي.

ومي ویل خالد اوس چیري دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر نرس مخاطب کړي ويل دا کس تر خپل ناروغ پوري ورسوه، زه هم په نرس پسي سوم يوي کوټي ته يي راوستم، هلته خالد په کټ باندي پروت وه سترګي يي پټي وي ورغلم څنګ ته يي کښيناستم په ځير ځير مي ورته وکتل ځکه زه اوس د خالد په هغه راز خبر شوي وم چي دي يي ناراحته کاوه ، هغه راز نشه وه ،

همدا يي لامل و چي ځيني وخت به خالد بي له کوم دليل څخه غوسه کيدي او ځيني وخت خوبه بيخي له حده زيات توپير پکي ليدل کيدي .

موبايل مي وشرنکيد ، ومي کتل پلار مي و ، د هلو په ويلو مي د پلار د غوسي غږ تر غوږ شو ويل اوري؟

هو اورم بابا اورم،

خو پلار مي بيا وويل زما ږغ اوري کنه ؟

ما هم خپله خبره تکرار کړه ومي ويل هو اورم وايه څه وايي؟

خو اړيکه پري سوه ، د ځان سره مي وويل دايي لا بله ، شبکه هم سم کار نکوي ، په هر حال افغانستان دي نو د کوم غم لپاره به يي وژارو،

بيامي د پلار زنګ راغلي خو داځلي هم هغه تيره کيسه تکرار سوه چي زما او د پلار خبري نه وسوي،

نو خالد مي هلته پريښودي او زه د موقيعت د تغير کولو لپاره د کوټي څخه ووتم تر څو موبايل کي خبري سمي وکړم او په عيني وخت کي انديښنه هم راتهپيدا سوه چي پلار به مي څه ويل ايا ډير مهم کار خو يي نه وه؟

غوښتل مي چي روغتون باغچي ته لاړشم خو په لاره کي د خالد مور مخي ته راغله ويل ماته دي ولي ونه ويل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان مي ناخبره وښود ، ومي ويل څه مي بايد تاته ويلي وای؟

هغي ويل زما زوي باندي څه سوي دي او چيري دي؟

پوسوم چي کار تر کار تير سوي دي او په کيسه باندي خبره سوي ده نو مي ورغبرګه کړه ، خالد هلته دي کوټه مي ورته پهنبنهکړل ، هغي هم قدمونه چټک کړل او د کوټي پهلوري په تلوار سره لاړل دلته مي شيطان راته وويل چي هله نو شبانه يواځي په کوټه کي پاتي سوه خالد او مور يي دواړه په بله کوټه کي دي نو مي د پلار زنګ د اوس لپاره وځنډوي او د شبانه د کوټي په لوري په تيزو قدمونو باندي لاړم .

په بيړه باندي په کوټه ورننوتم ، سترګي مي مستقيم په شبانه ولګيدي هغه په سد راغلي او ناسته وه په يو لاس کي يي د خوړو پياله او په بل لاس کي يي کاچوغه وه زما د ليدو سره يي چيغه وکړل له لاسه يي کاچوغه په پياله کي ولويده او مخ يي د دروازي څخه بل طرف ته کړ ويل څوک يي ؟

مامی ستوني تازه کړ په ورو او خجالت اواز مې وويل ، زه حسن يم اجازه ده چي دننه درسم؟

هغی لاهم مخ بل طرف ته کړي و ، خو زما د پوښتني په مقابل کي چوپه پاتي سوه هيڅ يي ونه ويل په يو لاس يي خپل پړوني يا ټيکري په مخ باندي راکش کړ مخ يي ورباندي پټ سو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماځو واړه او کوچني قدمونه د کوټې دننه واخيستل د شبانې د چپ لوري ته يوه کوچني چوکۍ وه په هغې باندي کښيناستم ، څو شيبه دواړه غلي و ، زړه مي غوښتل چي ورسره خبري وکړم خو جرئت هم لکه د کندهار برق نه و او نه مي هم د خبرو موضوع لټول چي بايد د څه په اړه پوښتنه وکړم په همدې فکر کي ومه چي يو ارام او سکون بخښونکي ږغ يي وکړ ويل خالد څنګه دي؟

شبانې ته مي وکتل مخ ته يي ټيکري نيولي و لاندي يي سترګي اړولي وي او هيڅ يي زما په لوري نه کتل ماهم مخ بل لور ته کړي ددې د پوښتني په مقابل کې مي وويل ، ته خبره يي چي خالد نشه کوي؟

ددې خبري په اوريدو يي خپلي غټي خړي سترګي د حيرانتيا سره زما په سترګو کي ښخي کړي ويل ته څه وايي خالد نشه کوي؟

ما هم يواځي پلمه غوښتل چي بحث اومنقشه وکړم د خبرو کولو موضوع هم پيدا سوه نو مي وويل ، هو خالد نشه کوي او دا خبره يي آن له ما هم پټه ساتلي وه بيامې هغه ټوله کيسه ورته وکړل چي اوس په څه حال کي دي او څنګه دی حال ته ورسيدي ؟

خو شبانه بياهم غلي ناسته وه په فکر کي وه ، ومي ويل ستا روغتيا اوس څنګه ده؟ يواځي يي دا جمله وويل ښه يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په صالون کي د قدمونو بږغ سو زه ولاړسوم د دروازي مخي ته ورسیدم غوښتل مي چي دروازه خلاصه کړم او دباندي ووځم خو له ما څخه مخکي خالد او مور يي دروازه را پوري وهل خالد په عادي حالت کي و ، ویل وروره ته دلته يي ما چي ویل ته به کور ته تللي يي؟

ورغبرګه مي کړه نه زه همدلته یم په داسي حالت کي نو زه تاسي څنګه یوائي پریږدم؟

خالد وویل ، ګوره مورمي ماته ناحقه په غوسه ده ته ووایه زما فشار کښته سوي و کنه؟

خالد په سترګو کي یوه اشاره وکړه چي زه هم دده په ځاي درواغ ووایم ، ماهم وویل هو موري د خالد فشار ټيټ سو نو ځکه بي هوښه سو .

په هر حال سر مو نه په درد کوم له روغتون څخه ووتو او په رکشه کي شبانه خالد او مور يي خپل کور ته لاړل زه هم تر خپل کور پوري ورسره ملګري وم .

په بل سهار دکور دروازه ټک ټک سوه مور مي راغله د خوب څخه يي پاڅولم ویل لاړشه وګوره څوک راغلي دي؟

زه هم په ببر سر تر دروازي لاړم سترګي مي د لمر رڼا وتخنولي دروازه مي خلاصه کړه په نيم کښه سترګو مي وکتل خالد ولاړ و ویل اوهووو د خان صاحب زویه ته تراوسه پوري ویده يي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کور ور ووتم پښتی مي په خاورو سپیري سوي ځکه په تلوار کي مي څپلي هم نه وي اخیستي ومي خندل ولا نن تر ډیره پوري ویده وم ، خیرت دي چي راغلي یي؟

ویل هو همداسي راغلي یم راځه دواړه د احمد دوکانته لاړ سو او هلته به خبري وکړو.

ما چي هیڅ کار نه درلودي نو مي ورغبرگه کړه سمه ده صبر وکه چي مخ پریمنځم

خالد هم په تمه پاتي سو ترڅو چي ما خپل کارونه کورکي خلاص کړل د وتلو په مهال مي مور ته وویل مورې شبانه چیري ده؟

مور مې د گیلاسونو په وینځلو بوخته وه لاسونه یي د اوبو او صابون په ځگ وه ویل هغه خو پوهنتون ته تللی‌ده غرمه راځي ،

نورڅه مي ونه ویل پلار مي هم کور کي نه و ځکه خپل تجارت خوني ته تللي و ، د خالد سره یوځاي د احمد دوکان ته راغلم ، احمد هم زمونږ تود هرکلي وکړي که ووایم چي احمد مي تر ټولو خلکو او ملگرو راته تیر او گران و نو به مي هیڅ مبالغه نه وي کړي ځکه احمد ډیر نرم مزاجه با ادبه او زیارکښ انسان و هغه صفتونه یي لرل چي ډیرو خلکو به ورسره مهپه همدې حسد کاوه یو ډول کشیش او جذبه یي لرل چي خلگ به یي ځان ته جلبول خبري یي خوږي وي هر وخت به یي خوله له خندا ډخه نه راټولیده ،

ومي ویل احمده کارونه مو څنگه دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



غټ استولي يي وکړي ويل ورورہ څه ووايم هغسي پخواني خوند يي نسته خو بياهم شکر خپل نصيب رسيږي ،

احمد يو د قرطاسيي دوکان درلود چي هر ډول کتابونه قلمونه او نور د اړتيا وړ توکي يي پلورل ټوله ورځ چي به موږ توکي ټکالي او په نورو عبثو کارونو مشغول و خو احمد به د کتابونو په لوستلو او په نړي باندي د ځان خبرولو په کوښښ و همدا يي لامل و چي احمد په ټول کلي کي د يو تکړہ باادبه او عزتمن شخص لقبخپل کړي و .

مګر خالد او احمد چندان د يو بل سرہ اړيکي نه لرلي خالد خو بس زما په شناخت ورسرہ ملګرتيا مخي ته وړل ،

ومي ويل احمده درسونه دې څنګه دي نن ولي پوهنتون ته نه يي تللي؟

ويل يي نن مي پلار لږ څه ناروغ و نو زہ د هغه په ځاي راغلم،

بيانو د خبرو موضوعی مختلفی سوي په هرڅه وږغيدو ، غرمه سوه خو زموږ خبري لاهم پای ته نه وی رسيدلي ، خالد وويل زہ نور ځم په کور کي مي پلار هم نسته .

ومي پوښتل ، اوووهو ! خالده ياره هغه ستا پلار څنګه سو يو خبر مو ترلاسه نکړي؟

په مايوسي يي وکتل بيايي وويل نه ولا هيڅ خبر يي نسته موږ ټول يي ډير پريشانه کړي يو نه پوهيږو چي چيري ورپسي لاړسو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد وويل اندیښنه مه کوئ څه کوچني خو ندي کوم کار به لري او بیرته به راسي ، بلاخره خالد لاړي ، زه او احمد یوائې سو ، په تمسخر می وويل ، نه پوهیږم چي ټوله کورني يي ليوني ده خو دا يو کس څنګه ښکي سم دي؟

احمد هم زما خندا بدرګه کړه ويل خالد نو بیا چا پرسد کړي تر ټولو لوي ليوني خو همدا دي.

ما وويل ، خالد نه یادوم ،

احمد ، نو بیا څوک یادوي ؟

ومي ويل د خالد خور شبانه یادوم، وریسي زیاته مي کړه، هغي مي پرون ولیدل يو جلا مخلوق و تابه ويل چي دا هیڅ ددوي د کورني نده.

احمد هیڅ ونه ويل فقط د هممم په کولو سره يي زما خبره تایید کړه.

که کتل مي هیله چي تور حجاب يي او ماسک يي اچولي و د کتابونو بسته يي په څنګ کي وه دوکان ته راغلل،

خو زما په لیدو يي پښه ونیول غوښتل يي چي بیرته شاته وګرځي، ور ږغ مي کړه راځه،

هغه هم راغلل ماته د سلام ویلو وروسته مي ور څخه وپوښتل، څه کار لري؟

په ورو ږغ يي وويل ، ځيني شیان مي په کار وه دلته يي رانیسم،

احمد ته مي وکتل هغه په ځینو کتابونو کي ځان بوخت وښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومي ويل ، ماته به دي ويلي وه مابه درته راوړي وه ، هيلي هيڅ ونه ويل زما د نورو خبرو په تمه وه،

ماهم زياته کړه ، اوس چي راغلي يي نو سودا دی واخله او ژر کور ته لاړه سه زه هم راځم ، يواځي يي سر وښوراوه د شرم څخه يي سترګي په ځمکي اچولي وي د احمد لور ته ورغلل ويل، دوه د پښتو ژبي کتابجي يو شين او بل سور قلم راکه، احمد هم د غوښتني سره سم ټوله سودا ورکړل خو کله چي هيلي پيسي ورکولي نو احمد د پيسو اخيستلو څخه انکار وکړ ويل زه ستاسي څخه پيسي نسم اخيستي هيلي ډير تينګار وکړ خو احمد ونه منل ،

هيلي بياهم وويل واخله زه هيڅ مفت شي نه غواړم خو احمد ويل مور لکه د يوې کورني خلګ زه پيسي نه اخلم ، زه ورته ګورم او ددوي سره چنې دي يو وايي چي پيسي واخله بل يي رد کړي ، څه شيبه لا ناست وم اخير مي حوصله پاى ته ورسېده هيلي ته مي وويل ، ورسه ته لاړه سه زه يي پيسي ورکوم .

هيلي هم کوم څه ونه ويل زما خبره يي ومنل او لاړل ، احمد ته مي وويل ياره که چيري ته داسي چلند وکړي نو زمور راتګ دلته کميږي او بيا نه راځو!!

احمد په توند نظر راته وکتل ويل ولي څه مي وکړل ؟

ما ويل بايد پيسي دي واخلي ځکه مور ته ځان کم معلوميږي.

احمد سوړ اسويلي وکړي ويل سمه ده چي ته داسي وايي نو پيسي راکه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماهم پيسي ورکړي او له دوکان څخه د کور په لور راغلم ، هيله له ما څخه مخکي رسيدلي وه د ډوډي په چمتو کولو کي يي له مور سره مرسته کول پخلنځي ته ورغلم دواړو يو د بل سره خندل ،

ومي ويل بابا کور کي نسته؟

هيلي وويل نسته هغه ندي راغلئ، بيايي خواړه په دسترخوان کينودل ټولو په ماړه نس ډوډي وخوړل .

چي کيسه اوږده نسي نو لنډ وايم څو وخت همداسي په عادي ډول ژوند تيريدی خو د خالد پلار لاهم ورک و حتا يوه مياشت ووته پوليسو ته يي هم خبر ورکړي و خو پلټني يي ناکامه سوي وي ،

بل خوا زما مينه د شبانه په وړاندي تر پخوا زياته سوه ځيني وخت به مي په يوې او بلي پلمي سره د خالد دوي کور کي ځان په زور سره ميلمه کاوه ترڅو شبانه ووينم مګر زما هلي ځلي بي ځايه وي اوهيڅ مي هم لاسته نه راوړل، ما غوښتل چي شبانه ته په غيري مستقيم ډول ځان ورسوم مګر دا کار داسي نه کيده.

څو ځلي مي فکر وکړي چي د خالد د مجبوريت څخه ګټه واخلم ځکه چي دخالد يو لوي راز له ماسره و نو مي يوه ورځ وغوښتل چي خالد وربلندي وګواښم او ورته ووايم چي د شبانې سره مي يوه ليدنه وکړي .

زنګ مي ورته ووهه ، ويل هاا اورم!

ما ويل زه پوهيږم چي اوري کوڼ نه يي.

ويي خندل ويل د هدف خبره دي کوه.

ومي ويل د کور مخي ته مو يم دروازه خلاصه که.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلیفوني خبري يي پري کړي څه شیبه وروسته د دروازي دستکي درب وکړ دروازه خلاصه سول په خندانه مخ یي وویل څه دي حسنه زویه نن سبا زموږ کور ته ډیر راځي؟

بیایي کور ته د ننوتلو بلنه راکړل،

زه هم ور مخکي سوم ومي ویل ولا نه پوهیږم چي څنګه درته ووایم چي ولي دلته راځم ؟

خالد شک واخیست او جدي سو ویل ریښتیا ولي راځي؟

موضوع مي ټوکو ته واړول ، ځکه پوهیدم چي خالد اوس بیا له ګیره وځي او سر اخلي بیایي په چا را ګرځوي، نو مي وویل ، لیونیه هغه به څوک وي چي میلمه له کور څخه شړي ، په خندا مي وویل چي خالد پو نسي ، فکر کوم چي کوډي او تعویذونه مو راکړي دي لکه پیشو چي بریتونه یي هر ځاي کي قیچي سي نو بیا هلته خامخا ځان رسوي ماته هم همداسې حالت پیښ دي.

ددی خبرو په اوریدو سره خالد هم وخندل.

ډیري خبري مو وکړي خو ددی خبري جرئت مي ونشو کولاي چي ووایم د شبانې سره مي لیدنه وکړه.

خپل کور ته بیرته راغلم په فکرونو مي بیخي د سر پوست درد کاوه ورځ تر بلي مي اندیښني زیاتیدي رنګ مي تک ژیړ اوښتي و ټولو خلکو به ویل چي هلکه په تا څه سوي دي چي ورځ تربلې دی وینه له مخې څخه ځي ؟

خو خلک زما له حالته نه وه خبر چي زما په زړه کي یو لوي داسي عذاب دي چي چاته یي ویلي هم نسم ، د ځان سره مي به مي وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه!**

ښکلا ولټوه،

چې هینداره یې نه ښائي.!

چي دا ښکلا یواځي شبانه وه د هغی حیاناک چلند د هغي ورو ورو خبري د هغي معصوم رنګ افففف څه به ووایم د زړه له درده به مي دا ټپه وکړل:

په تا چې ځوک نه مینیږي

یا به واړه وي یا به سترګې نهٔ لرینه

د څه وخت په تیریدو سره مي په فکر کي خپله خور هیله ولټول او دا فکر مي وکړي چي باید هرڅه هیلي ته ووایم کیدي سي چي هیله یوه د حل لاره راته وښايي او ددي بیلتون او د جدايي له درده خلاص سم باید شبانه ووینم که څه هم د یوي لحظي لپاره وي.

د هیلي کوټي ته ورغلم ، هغی د کوم چا سره په موبایل کي خبري کولي زما په لیدو یي وویل ، زه وروسته درته زنګ کوم اوس مي ورور راغلي بیایي موبایل بند کړ ، ومي ویل د چا سره دی خبري کولي ؟

ویل زما د پوهنتون یوه ټولګیواله وه ولي څه سوي دي؟

ځان مي عادي وښود ومي ویل ، درسونه دي څنګه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم څه ته خوبه اړتیا نلري؟

ویل مننه کوم څه نه غواړم او درسونه هم ښه مخي ته ځي ،

د کتاب په لوستلو بوخته سوه ،

زه ولاړ وم هیڅ مي نشوه ویلي په فکر کي ومه چي څنګه باید ورته ووایم چي شبانه مي خوښه ده ؟

خو د هیلي فهم ډیر تیز و ، زما راتګ یي بیځایه نه باله ، څه شیبه د کتاب په لوستلو مصروفه وه بیایي سر راپور کړ ویل کوم څه وایي؟

دلته مي نو زړه لوي کړ ومي ویل هو یوڅه درته وایم خو دا خبري څخه باید بابا او مور هیڅ خبره نسي !

هیله متوجي سوه چي خبره خامخا جدي ده کتاب یي بند کړ ویل وایه اورم یي.

شاوخوا مي وکتل بیا ور نږدي سوم څنګ ته یي کښیناستم په خف اواز مي وویل ته خو خالد پیژني؟

ویل هو پیژنم یي !

ما ویل د خالد هغه کشره خور شبانه به هم پیژني؟

د هیلي خوله د مسکا لپاره نیمه خلاصه سوه لکه چي زما په ټوله کیسه باندي پوهیدلي وي ویل هو پیژنم یي ډیره ښه انجلي ده !

نور غلي سوم هیڅ مي ونه ویل خو هیله زما د اخیري خبري په انتظار وه،

بیایي په جدي توګه وویل حسنه داکار مه کوه ، زموږ او هغوي کورني ډیر توپیر لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومي ویل ولي په دي سبب چي هغوي غریب دي د ښه ژوند کولو حق نلري او زما په خیر خلګ یي په انتخاب کولو کي تیروتنه کوي ؟

ویل زه نور نه پوهیږم ته له ما څخه مشر یي زه تاته نصیحت نسم کوي ته پخپل کار باندي له ما څخه ښه پوهیږي خو دا راته ووایه چي ماته دې ولي وویل؟

ومي ویل، ستا مرستي ته اړتیا لرم ، زه باید د شبانه سره یوه لیدنه وکړم ترڅو ځانته دا ډاډ ورکړم چي ایا هغه هم ما غواړي کنه؟

ایا زما اړیکه خو به یو طرفه نه وي ؟

هغی په غوسه وویل ما دي په دي کارونو کي مه شکیل کوه زه مرسته درسره نه کوم.

زه نور هم ورنږدي سوم د هغی دواړه لاسونه مي ونیول د زارۍ په ډول مي وویل ، هیلي خورکي ماته یا مه وایه ځکه بل څوک داسي نلرم چي را سره کومک وکړي یواځي مي تاته سترګي دي ته زما خبره ومنه او ددې کار لپاره چي ته هرڅه وغواړي زه اماده یم چي در یې کړم خو ته بس ما او شبانه سره مخ که .

هیلي زما خبري نه منلې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر د ښځو ځانګړتیا داده چي تل یي په عقل باندې عواطف غالب سي نو د هیلي سره هم همداسی وسول په ما باندي یي زړه وسوځوي ویل سمه ده مګر فقط دا یو ځلي یي درسره مخ کوم او بیا به یي هیڅکله غوښتنه نه کوي.

ماهم ژمنه وکړه چي بیایي نه غواړم .

ویل سمه ده سبا د جمعي ورځ ده بابا او مور د ژمي د توکو رانیولو لپاره ښار ته ځي زه به هم یو پلان جوړ کم او مرسته به دي وکړم.

ددی خبری په اوریدو سره مي خوله له خندا ډکه سوه ومي ویل ، ته د نړي تر ټولو ښه خور یي خداي دي هر چاته داسي خور ورکړي.

هیلي زه د ځان څخه ټیله کړم ویل سمه ده نوره چاپلوسی مه کوه ځه لاړ سه .

زه هم د خپلي کوټي په لور لاړم او د خوشحالي څخه په جامو کي نه ځاي کیدم.

د خوشحالی څخه مي یو دوه رکعته نفل هم وکړل ترڅو په دې کار کي کومه ستونزه راته جوړه نسي ،

د جمعي سهار لس بجي وي چي له خوبه پاڅېدم که څه هم لس بجي زما لپاره وختي و ، خو نن یو ډیر مهم پلان چمتو و، په بیړه مي مخ لاسونه پریمنځل د هیلي په لټون له کوټي څخه ووتم، د هغی کوټي ته لاړم ، هیلي زما په لیدو د سترګي له غوسي څخه بندی او خلاصي کړي تندې یي کونځي وکړي له غوږ څخه یي موبایل لیري کړي په غوسه یي وویل ، وروره چي کوټې ته راځي یو ځلي خو دروازه ټک ټک کوه څوک به په یو کار مصروف وي !

ما ویل هو اوس خو تا تعلیم کړي دي موږ به لاسونه او پښې هم در مچی کوو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلي سوه ويل وايه څه دي؟

په عاجزي او بنده بنده ژبه مي وويل ، تاويل چي د جمعي په ورځ ....

نوره خبره مي پوره نکړل ،

هيلي غټه سا وايسته ويل ، صبر چي بابا دوي لاړ سي اوس خو هغه کور کي دي ، کله چي دوي لاړل ته هم لاړ سه او خالد ته ووايه چي شبانه زموږ کور ته راولي نو به په يوه پلمه باندی تا هغي کوټي ته يوسم چي شبانه وي .

ستړ مي وګروي ماويل ته مطمينه يي چي کار به وسي؟

ويل هو کيږي خو خالد دې بايد په نيت باندي پو نسي.

پسي زياته يي کړل ورسه نوي جامي مي درته اوتو کړي دي هغه واغونده خو لومړي حمام وکړه چي دوه اوني کيږي نه يي لمبيدلي.

ددی خبري سره يي سخت خجالت سوم ، سر مي د هو په معنا وښوراوه او د هيلي د خبري سره سم لاړم حمام مي وکړي او نوي جامي مي په تن کړي بيرته د هيلي په طرف راغلم ، ومي ويل څنګه ښکارم؟

په تمسخر يي وويل ، ډير جالب معلوميږي فکر مي نه کاوه چي ته به دومره ښکلي سی !

بيايي په کټ کټ وخندل او لاس يي خولي ته ونيوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې ويل ، له تا څخه بېخي شوخه جوړه سوې ده ،

پلار مې بڼغ وکړي ويلحسنه !

هاا بابا جانه څه وايې؟

پلار مې وويل ، زه او مور دې ښار ته ځو په کور باندې پام وساته چې له کور څخه بېرون ونه وځې .

سمه ده نه وځم، خو په زړه کې مې وويل هلې نو ژر لاړ سې چې شبانه کور ته راولم.

مور او بابا دواړه په موټر کې له کوره ووتل ، د دروازې د بنديدو سره په منډه د هيلې خواته راغلم ومې ويل ، هله نو چمتوالي ونيسه چې زه خپل شهزادګي کورته راولم، هيلې برګ برګ وکتل بيا موسکې سوه ويل ورسه ژر يې راوله چې ناوخته نکړې.

له کوره په بيړه ووتم خالد ته مې په لاره کې زنګ وکړي تر ستړې مسې وروسته مې وويل ولا خالده نن مې خور ويل چې ستا خور دې زموږ کور ته راشي ځکه مور او پلار مې تللې دي لږ به د زړه خواله سره وکړي.

خالد ويل ، يا نه کيږي زموږ کور هم يواځې دي کور کې مې بيا يواځې مور پاتې کيږي پلار خو مې هسې نه هم سيند وړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومي خندل بيامي په عاجزي وويل ، ورروره دا سي مه کوه هغه به هم ديغ وي لړ به يي پام په بله سي د پلار ورکيدو وروسته يي کيدي سي چي زړه اچولي وي ، ځيني نوري قناعت بخښونکي الفاظ او هغه چاپلوسی چي زده مي وه کار مي ور څخه واخيست او بلاخره مي خالد قانع کړ چي شبانه کور ته راولي،

موبايل مي بند کړ د احمد دوکان ته نږدي وم ، ورغلم تر سلام کولو وروسته مي وويل ، هلکه لکه چي د بخت ستوري مي اوس روښانه سو !

ويل څه سوي دي نن خو بيخي خوشحال معلوميږي ؟

ما ويل پوښتنه مه‌کوه ملګري،

لکه څنګه چي احمد زما ټينګ او د راز ملګري و نو په ټوله کيسه مي خبر و هرڅه مي ورته ويلي وه چې شبانه باندي مئين يم،

زياته‌مي‌کړل ، هلکه نن شبانه زموږ کور ته راځي او ور سره وينم دخپلي سپيڅلي اړيکي اظهار ورته کوم .

احمد وويل ، که چيري يي ستا غوښتنه رد کړل بيا څه؟

سوړ اسويلي مي وکړي ومي ويل، ملګري ته ولي دومره منفي فکر کوي دا ستا نحصې خوله که راپسي وه نو د ډيرو بلاګانو به ښکار سم، بيا مو په ګډه سره وخندل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خير ځو دقيقي دلته ناست وم ، خالد زنګ ووهه ويل ستاسي د كور مخي ته يم،

ددې خبري سره په ځان نه يم پوسوي چي څنګه تر كور راغلم ،

دوې پښې مي خپلي وي لس پښې مي نوري د شيطانانو او پيريانو ملګري كړي د لسو دقيقي لاره مي په دوه دقيقي كي ووهل كه څه هم په پلي تګ وم.

خالد په موټر سايكل ناست و خو شبانه نه معلوميدل،

خالد ته مي وويل ، خور دی نه معلوميږي؟

ويل ياره لومړي سلام بيا كلام ، تاخو د سلام نه مخكي لكه د پوليسو افسر پوښتني پيل كړي .

ومي ويل وبخښه ياره فكر مي نه و ، بيا مي ورسره روغبړ وكړي ،

خالد زما د پوښتني ځواب ووايه ويل ، هغه ستاسي كور ته لاړل ، راځه زه او ته هم د احمد دوكان ته لاړسو.

ومي ويل ، نه وروره زه همدااوس له هغه ځايه راغلم او بيا په كور كي لږ څه كار هم لرم بيا زه درته زنګ وهم چي يوځاي لاړ سو خو اوس نسمه كولاى.

خالد ډير ټينګار ونكړي ويل هرڅنګه چي ته غواړي او بيا لاړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هم په يوه حمله په کور ننوتم، هيله مي د کور په غولې کي وليدل چي په پتنوس کي يي د چاي ترموز گيلاسونه او د شيريني قاب اخيستي دي ، څنگه چي زه په څو مترو کي ورڅخه ليري وم نو يي ژر پتونوس په ځمکه کيښود او د هغه ځاي څخه يي يوه گوته په شونډو کيښوده ددې لپاره چي زه مي خپل ږغ ونه باسم،

ما په سواليه نظر ورته وکتل، هغې کوټې ته اشاره وکړل ، هدف باندی يی پوسوم چي هلته شبانه ده.

بيا په خف خف قدمونو باندې تر ما پوري راغلل ورو يي وويل ، ستا په کوټه کي مي کښينولي ده ، ته داسي وکړه چي ځان داسي ښکاره چي ته نا خبر يي او زما د نوم په اخيستلو باندي خپلي کوټې ته ورسه او د شبانې سره مخ سه.

په اوږه مي کرار يوه چپلاخه ووهل ومي ويل ډيره هوښياره يي!

هغي وخندل ويل ستا سره وروسته بيا کار لرم اوس ورسه.

ماهم ځان اماده کړ ، په زړه مي يو خداي خبر و ځکه ويريدم چي څنگه عکس العمل به وکړي ايا زما وړانديز به ومنې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شعبی دروازه ټک ټک سوه قومندان امير غږ وکړي راځي،

کله چي دروازه خلاصه سوه د حسن پلار عزيز و د سلام ويلو وروسته يي اجازه وغوښتل،

قومندان هم اجازه ورکړل راغلي او د څنګ چوکي کي د خپل زوي تر څنګ کيناست، ويل امير صاحب موږ بايد څه وکړو؟

امير وخندل ، تاسي هيڅ هم مه کوئ هر څه چي وي هغه زه او زما مرستيال يي کوي تاسي ته د هيڅ شي اړتيا نسته بس دومره وکړي چي هر ځلي راته مزاحمت مه کوي د ټولي کيسي خوند دې راته خراب کړ کيسه اوس اصلي ځاي ته رسيدلي وه او ته راغلي.

د عزيز تندي کونځي سو او د سواليې په نظر يي حسن ته وکتل بيايي امير مخاطب کړ د چيشي کيسه؟

قومندان لويه ساه واخيستل ويل بوډا وګوره دلته خوبه ستا د زوي سره نکاح نه کوم خو تحقيق ورڅخه کوم بيايي په غوسه وويل نجيبه!

بلي قومندان صاحب!

ته څنګه ساتونکي يي چي هر څوک وغواړي دلته را دننه شي نو ته هم هغه راته راولي هله نو دا کس دباندي وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عسکر بخښنه وغوښتل او بیا راغلي د عزیز لاس یي ونیو ویل راځه چي ووځو کني ډیره به درته بده وي.

عزیز د تلو په حال کي وویل زویه ته خو ښه یي وهلي خوبه یي نه وي؟

حسن په خواشیني اواز وویل ، هو بابا جانه زه بلکل ښه یم هیڅ نه دي پېښ سوي تاسو لاړ شي وروسته بیا قومندان صاحب حال درکوي اوس کورته لاړ سي.

عزیز وویل زویه موږ اوس ځو او د خالد جنازه وړو کله مي چي هغه خاورو ته وسپاري بیا به خبري کوو.

ددی خبری په ویلو نور د شعبی څخه ووتی.

د حسن په سترګو کي اوښکي ډنډ سوي د خپلو سپیرو ګوتو په سټ یي اوښکي له سترګو څخه پاکي کړي.

قومندان امیر هم د چاي څخه اخیري غړپ وکړي ګیلاس تش سو ، ګیلاس یي په میز باندي کیښود سګریټ ته یي لیټر ووهه د هغه څخه شین لوګي پورته سو په کوږ ورمیږ یي حسن ته وکتل ښه نو بیا څه وسول؟

حسن په ویلو سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماهم د هيلي د پلان سره سم د هيلې نوم يادکړي ترڅو شبانه شک ونکړي او زه هم ځان بي ګناه ثابت کړم،

نو مي وويل ، هيلي خورکي ددي نوم په ويلو باندي په کوټه دننه سوم او د کوټي تر نيمايي پوري په يوه قدم لاړم ،

شبانه بيا يوه چيغه وکړه مخ ته يي دوه غبرګ لاسونه ونيول ،

ما ځان ناخبره څرګند کړ ومي ويل ، ته نو څوک يي؟

هغی د ګوتو تر منځ يوه سترګه ښکاره کړه راته يي وکتل خو هيڅ يي ونه ويل !

زه لا هم ولاړ وم ددې د جواب په هيله وم.

بيامي وويل ولي‌چوپه يي ته څوک يي؟

هغی دا ځل په ريږديدلي اواز وويل ، د خالد خور يم ، بيګانه نه يم هيلې راغوښتي يم.

موضوع مي ټوکو ته واړول ومي ويل ، اووهو، شبانه يي؟

هغی سر کښته پورته کړي خو اواز يي له خولي نه ووتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پوهیدم چي څنګه خبري ورسره وکړم نو د شبانۍ په مخامخ بخملۍ کوربچه باندی کښیناستم ،

شبانه چي په یوه سترګه یي راته کتل هغه یوه سترګه یي هم له حیرانتیا څخه نږدې وه چي دباندي راووځي ، یو خو خداي هغی ته غټي سترګي ورکړي وي او بیا له حیرانتیا څخه لاهم سترګي غټي غټي را وکښلي رډ رډ یي کتل ،

په غوسه یي وویل، ته دلته ولي کښیناستي؟

ستوني مي تازه کړ ورو مي د ځان سره وویل ، بچو اوس نو څه کوي؟

بیامي وویل  ریښتیا درته وایم، ته دلته هیلي خور نه بلکي ما راغوښتي یي!

په لوړ اواز یي وویل څه ؟

غرقه سوم په خداي چي خالد به  مي ووژني، ددی خبري په ویلو سره د ځاي څخه پورته سوه غوښتل یي چي له خونې څخه ووځي.

خو ددې د پاڅیدو سره زه هم پاڅیدم او په دروازه کي مي لاره ونیول ، په عاجزانه ډول مي وویل ، صبر وکه لومړي زما خبري واوره مه ویریږه زه هیڅ تاوان درته نه رسوم او نه هم زه داسي څوک یم چي ناوړه استفاده درڅخه وکړم.

ویل نو ته زما څخه څه غواړي ولي دې دلته راغوښتي یم؟

دوه دري قدمه ور مخکي سوم سترګي مي دشباني سترګو کي ښخي کړي په مینه مي وویل ، شبانې په کومه ورځ چي مي لیدلي یي د هغي ورځي څخه مي په حافظه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي یواځې ستا انځور دي په هیڅ نه پوهیږم ، خوراک څښاک هرڅه راڅخه پاتي دي یواځې ستا په اړه فکر کوم باور وکه چې په سجده باندي هم تا له خدایه غواړم ، دا لیدنه مي هم له خدایه په نفلو غوښتي ده ،

غواړم تا هم په هغه احساس کي له ځان سره شریکه کړم کوم احساس چې زه ستا په وړاندې لرم ، غلط فکر ونکړې که چیري ته زما خبره نه ومنی نو زه هیڅکله تا نه مجبوره کوم چې زما وړاندیز درباندی ومنم ، خو بس یواځې زما په حالت ځان پوکړه ،

نور هم ورمخکې سوم حتا دومره ورمخکې سوم چې تر منځ مو نیم متر فاصله هم نه وه ، دهغې لاسونه مې ونیول په سترګو کې یې اوښکې ولاړې وې په تعجب یې راته کتل ، ما یې لاس پخپل زړه کیښود د زړه درب درب مې دومره په زوره وه تا به ویل چې ډولزن ډول وهي او ږغ یې راوځي ،

دهغې له غټو سترګو اوښکې توی شوې ، ومې ویل ، ته ولې ژاړې ما خو کوم غلط حرکت ندې کړې !

دهغې ږغ نور هم په زوره سو او سلګو واخیستل ، بدن یې ټول داسې ریږدیدي تا به ویل چې په ژمي کې په یخو اوبو باندې لامبي،

بیامې وویل ، ولې ژاړې څه مشکل دې ؟

خو د هغې ژړا نوره هم شدیده سوه ، نو مې په غیږ کې ټینګه ونیول د هغی په ویښتانو کې مې لاس تیر کړ لکه وریښم نرم ویښتان یې وه او یو ډول نرمه خوشبویي یې لګولي وه،

بیامې له غیږې لیرې کړل خو شبانه داسې وه لکه مړی نه یې څه ویل او نه یې هم ماته کتل بس یواځې یې ژړل ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغي د سپينو اننګو د پاسه اوښکو لاره وکړل ،

بيا مي ورته دا لنډۍ وويل

ياری د زور خبره نده

چي زړه دي نه وي بيادې نه مجبورومه !

جيب ته مي لاس کړ يو کوچني ګوتمي چي له سرو زرو څخه جوړه وه هغي مي ورته د چپ لاس په دومه ګوته کي واچول او زياته مي کړل ، دا زموږ د ميني نښاني ده که چيري تا دا ګوتمي له ګوتي څخه ليري کړل نو زه به پوسم چي ته ما نه غواړي .

ددې خبري په کولو له خونې څخه. راووتم ، خداي سته چي زما بدن هم يخ نيولي و او بيخي له واکه وتلي وم ټول بدن مي بي سيکه سوي و يو مدهوش حالت کي ومه لکه ښه مست سګريټي چي مي وهلي وي.

له کوره ووتم او سيده د احمد دوکان په لوري لاړم.

د شبانې اوښکي او سلګو مي بيخي فکر خراب کړ ، له ځان څخه مي نفرت وسو او خپل په کار باندي ډير پښيمانه سوم خو زيات مي فکر په دې خراب و چي د شبانې د ژړا په لامل نه پوهيدم ايا هغي له خوشحالي څخه ژړل؟

يا دا چي هغه خپل باور ته چي په هيلې يي درلودي سر ټيټې وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خير هر څه چي و خو اوس مي دا كار كړي و ، ځان مي ملامت احساسوه ، د ځان سره مي وويل ، كاش دومره مستقيم اظهار مي نه واي كړي .

د احمد دوكان ته په همدې فكرونو كي ورسيدم ، احمد وويل ، هلكهدا رنګ دې ولي الوتي دي ؟

څادر مي له ځان څخه تاو كړ په ورو اواز مي وويل ، وروره ما خپل كار وكړي نور نو څه نسم كولای؟

احمد مخكي خبر و چي زه څه پلان لرم.

ويي ويل ، فكر نه كوم چي تاسي او خالد دوي دي جوړ سره راسي!

ومي ويل ، ولي په ما باندی څه سوي دي ؟

زه د شبانې وړتيا نلرم؟

أحمد وويل ، نه وروره زما هدف دا نه و ، خو د هغوي كورنۍ لړ سخت طبيعته ده كه چيري خالد خبر سو نو بيابه درته لوي مشكل جوړشي.

ومي ويل ، احمده ته نه پوهيږي  كله چي دې كوم وخت مينه وكړل او په كوم چا دې زړه وبايلي هغه وخت به درته معلوم سي چي انسان څنګه احساس كوي،

بيامي دا بيتونه احمد ته ډالۍ كړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ولاکه خو په ټول ژوندون کې ښاد شي
کوم انسان چې په انسان باندې معتاد شي

ور مـعلوم به شي چې مينه څه ته وايي
که زمـا رقم څـوک چـا پسې برباد شي

ورځ خو ښـه وي لږ مې فکر په کې اوړي
خو د شپې چې څنګه سر کښيدم راياد شي

د بـاران او بـاد اټکل وي ناممکن خـو
چې د هـيلو خـيمه ودرومـه باد شي

احمد وويل ، واه واه هلکه شاعر هم در څخه جوړ سوي دي ، او هو ماته معلوميږي ځيني اړيکي داسي هم وي چي د يوې شيبي ليدني لپاره په مياشتونو انتظار ورته کوو !

ومي ويل ، ارشاد ارشاد احمده ته خو هم ولا پوره فيلسوف راووتی،
احمد هم راسره خندا بدرګه کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ماښام پوري د احمد دوکان کي وم چي د هيلي زنګ راغلي،
ومي ويل څه شوي دي بيا څه ټکه را لويدلي ده ؟

هغي په نرى ږغ وويل ، وروره مور او بابا تر اوسه پوري کور ته رانغلل او ماښام هم سو موبايل يي غلي دي له غرمي څخه ورته زنګ وهم.

که ريښتيا ووايم نو ددې خبري سره يي زه هم انديښمن کړم ، خو هيلي ته مي د درواغو تصلي ورکړل ومي ويل ، راځي څه ماشومان خو ندي لږ صبر به نور هم ورته وکړو.

احمد چي د کتاب په لوستلو بوخت  ويي ويل ، څه وشوه ؟

ومي ويل ، مور او پلار مي سهار ښار ته د موسمي توکو د رانيولو لپاره تللي و مګر تر اوسه پوري کورته ندي راغلي او موبايل يي هم غلي دي ، په سودا کي خو يي تر اوسه پوري دومره وخت نه تير کړي .

احمد هم انديښمن سو ، له دوکان څخه را ووتم خو چي تر کور پوري راتلم په لاره کي خالد راته زنګ وکړي ،

تر سلام وروسته يي وويل ، مبارکي راکه .

د چيشې مبارکي درکړم ، لور خوبه دې ته وي زيږيدلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد لږ موسک سو بیایي وویل ، ته خو لومړي راته د لور مور پیداکړه لور به بیا خپله راسي .

دواړو وخندل ، خالد وویل ، پلار مي په لاره کي دي اوس یې زنګ راته وهلي و،

دده د پلار شتون او نشتون ماته یو ډول و خو په ظاهره مي د خالد لپاره خوښي وښودل بیامې وویل، یاره اوس بیا زما پلار ورک دي؟

خالد وویل ، ټوکي مه کوه!

ټوکي نه کوم ریښتیا ورک دي او هیڅ حال ورباندي نلرم .

خالد موضوع بدله کړل ویي ویل، زما خور نن په ژړا کورته راغلل فکر کوم ستا او زما د خور ترمنځ کومه شخړه سوي ده او خفه سوي دي؟

زړه مي ودریدې ، نه پوهیدم څه ووایم !

دلته مې لغماني چل وکړي ، تلیفون مي له غوږ څخه لیري کړ په زوره او لوړ اواز مي وویل هلوو، اورې، خالد که څه هم خبرې راته کولي خو ما داسې وښودل چي هیڅ یي ږغ نه اورم په همدې نارو کي مي تلیفون بند کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد هم بیازنګ ونکړي .

کور ته راغلم ،

که ګورم مور مې د سراي په غولي کې ولاړه ده زما په لیدو موسکې سوه ویل حسنه زویه ته راغلې؟

د سلام ویلو وروسته مې وویل ، مورې تاسې چیرې وې مورډ مو ډیر اندیښمن کړو خیرت خو به و؟

د مور مې خندانه خوله سره ټوله سوه ویل هو زویه خیرت و ، په غیږ کې یې ونیولم ، زه هم په تعجب کې سوم چې ولې داسې نابلده چلند کوي؟

داصحي ده چې زه مې په مور باندې بې کچې ګران وم هر وخت به یې غیږ کې نیوم مګر کله یې داسې بې دلیله نه وم نیولې .

مور مې ژوره ساه وایسته او پوزه یې کش کړه ،

ځان مې د مور له غیږي خلاص کړ کله مې چې یې مخ ته وکتل د هغې له سترګو اوښکې رواني وې.

ومې ویل ، مورې څه سوې دې ؟

ته ولې ژاړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغي پخپل پړوني ټيکري باندي سترګي وچولي ويي ويل بس همداسي راته ژړا راغلل تاسي د ورځي څه وکړل د غرمي ډوډي مو وخوړل؟

هو مورجاني ډوډي مو وخوړل مګر تاسي څه وکړل سودا مو واخيست؟

پرته له دې چي راته ځواب ووايې لاړل او خپلي خونې ته ننوتل.

پخلنځي ته ورغلم هيله په پخلي کولو بوخته وه!

چي زه يي وليدم په ناز او ګيله باندي يي وويل ، ته اوس راغلي زه ټوله ورځ يواځي په کور کي پاتي وم حتا چي پوهنتون ته هم نه ولاړم اوس چي د ډوډي وخت سو نو ته راښکاره سوي .

د هغی تر خبرو مي پښه واړول ومي ويل، مور دوي څه وخت راغلل؟

هغی ديګ له چولې څخه ښکته کړ ګاز يي بند کړ مخ يي زما په طرف کړ ويي ويل، لږ وخت يي کيږي چي يواځي مور راغلل ، د بابا پوښتنه مي وکړل چي هغه چيري دی ولي رانغلي؟

خو مور هيڅ راته ونه ويل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوره هیلي زما شپړم حس دا راته وایي چي یوه کیسه خو ده ، مور ولي موږ ته هیڅ نه وایي ؟

هیلي وویل ، په دی خبرو پسي مه ګرځه ، راځه چي ډوډي مي تیاره کړي ده .

څه دي پخ کړي دي؟

هیلې وویل ، بینډي او کچالو

ومي ویل ، پخداي چي د نوم اوریدلو سره يې سم موږ سوم .

زه يي نه خورم !

هیلي هم قابونه له بینډي او پټاټو څخه ډک کړل له پاخه شوي خوړو څخه توښونه داسي پورته کیدل لکه د سګریټ لوګي.

بیامي وویل ، کله چي زه ولاړم نو شبانې څه وویل؟

هیلي خپل ټیکري په سر باندی سم کړ سترګي يي خلاصي او بندې کړي.

زه لاهم د هیلي د جواب په انتظار ولاړ یم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومي ويل ، اوس خو په پنځه افغاني باندي يوه خبره هم نکوي، وايمه چي زه ولاړم شبانې خو به څه نه وي ويلي يا زما شکايت خو به يي نه وي کړي ځکه ما هغه په غيږ کي ونيول!!!

هيلي بيا ستوني تازه کړ او د پخلنځي د دروازی په لور يي په سترګو باندي اشاره وکړل.

ددې اشاري سره زه هم پوسوم چي کوم څوک مي شاته ولاړ دي ،

په بيړه مي د دروازي په طرف وکتل ، مور مي وه په غوسه يي زما سترګو ته کتل،

خداي سته چي له ډير شرم او خجالت هغه د چا خبره تر ځمکي ووتم او عزت مي په دوه پيسو سو نه پوهيدم چي څه ووايم او څنګه د ځان سپيناوی وکړم ؟

سترګي مي ځمکي ته کښته کړي ځاي په ځاي لکه د هندوانو بت ودريدم.

مور مي هيلې تهوويل ، ډوډي دی چمتو کړل ؟

هيلي وويل ، هو موری ته ځه زه يي در وړم!

مور لاړل ، هيلي په دومره زور سره خندا پيل کړل چي له ډيري خندا کولو سره يي له سترګو څخه اوښکي رواني سوي او غورځيده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غوسه مي وویل ، بس دي نو زما له سپکاوي او شرم څخه ډیر خوند اخلي؟

هغي هم خندا کابو کړل خبري ته یي خوله جوړول چي بیایي د خندا څپه راغله په لاس کي یي یو قاب نیولي و له ډیر خندا څخه هغه قاب په ځمکه ولویدي او ټول خواړه هم توي سول،

له دی سره مي په سر باندی له مهربانۍ چپلاخه ورکړل، ومي ویل وایمه بس دی خو..

له پخلنځي څخه راووتم، په فکر کي ومه چي مور به مي څه راته وایي ؟

دا شپه هم تیره سول ، په سهار کې تر لمانځه وروسته په خونه کي ناست وم چي هیله راغلل ویل راځه چي د سهار ناشته وکړو.

زما بیا په فکر کي پرون شپه راغلل ، ومي ویل نه زه یي نه خورم ځکه مور به بابا ته دپرون خبري کړي وي !

هیلي راغبرګه کړه ویل ، نه داسي نده ، بابا خو له پرون څخه نه دي راغلي یواځي مور راغلل .

ومي پوښتل ، ولي بابا پرون له مور سره یوځاي رانغلي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل نه يوائې مور راغلل ، له دي خبري سره هيله د کوټي ووته.

موبايل مي وشرنګيد، ومي کتل احمد و ، تر سلام وروسته مي وويل ، احمده چيري يي ؟

ويل ، نن هم دوکان کي يم او پوهنتون ته نسم تللي پلار مي لاهم ناروغ دي !

ما ويل سمه ده زه هم راځم په نيم ساعت کې به ځان در ورسوم.

موبايل مي قطع کړ د مور خوني ته راغلم ، د سهار پخير وروسته مي وويل ، موري بابا ولي پرون کور ته نه راغي چيري تللي دي ؟

مور مي زما د خبري په ځواب کي وويل ، ما فکر نه و کړي چي ته به دومره بد او بي ادبه و اوسي !

حيران سوم ، ومي ويل ، په دی کي نو د بي ادبي څه خبره ده د خپل پلار پوښتنه مي وکړل ؟

هغی په غوسه وويل ، د پلار زويه پرون دي د شبانې سره څه کړي و هاا!؟
هيلي ټوله کيسه راته وکړل ، تاسي زما په نشتون کي څه څه کارونه کړي ؟
که چيري دې پلار خبر سو قيامت به دربانډی جوړ کړي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيلي ته مي وکتل ، په تونده لهجه مي وويل ، زړه مي غواړي چي دا ګرمي چاي دي په سر باندی چپه کړم !

هغي په ورو او منطقي اواز وويل ، دکوم کار په کولو چي نه شرميږي نو د هغه په ويلو ولي شرميږي؟

ماچي خبري ته خوله جوړول ، مور مي هيلي ته وويل : په دی کار کي ته هم لاس لري ته صبر وکړه چي لومړي مو پلار راسي ټولي خبري يوه يوه ورته کوم !

نور مي نو حوصله پای ته ورسېده ولاړ سوم چي د احمد دوکان ته لاړ سم خو مور مي ويل کښينه چيري په هوا سوي؟

موری غواړم چي د احمد دوکان ته لاړ سم !

ويل ته کښينه يوه اړينه خبره درته وکړم !

خو ګوره چي کوم چا ته ونه وايې ځکه دا زموږ د کور راز دي!

ومي ويل سمه ده نه وايم ، هيله هم متوجي سوه چي مور مي څه وايي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور مي وويل ، تاسي خو پوهيږي چي پلار دي عزيز خان او نورالدين خان دواړه په کاروبار کي سره شراکت کړي و؟

موږ دواړو وويل هو پوهيږو .

مور مي بيا خبرو ته ادامه ورکړل ويل ، په دی به نو نه پوهيږي چي په کوم څه کی سره شريکان وه او څه کاروبار يي کاوه ؟

ما ځواب ورکړ ، البته چي خبريم ځکه چي دوي دواړه څو کاله کيږي په د ميوو په تجارت کي سره شريکان دي .

مګر موری دا خبري ته ولي موږ ته کوي ؟

مور مي وويل، نه زويه په تجارت کي نه وه شريکان بلکی د تارياکو يعني مخدره توکو په کرلو او بيا د هغه په خرڅ کولو کي سره شريکان وه .

ددی خبري په اوريدو بيخي حيران سوم ما ويل ، موري ته څه وايي ، هغه خبري چي په خوله باندي کوي هغه په خپلو غوږونو باندي اوری کنه ؟

مور مي سر کښته پورته کړي بيا چوپ سوه ،

خپل مخي ته پروت ګيلاس يی د چاي څخه ډک کړ بيايي خاموشي ماته کړه ويي ويل، حکومت د نورالدين او ستاسي د پلار په کار باندي خبر سوي دي او نورالدين يي څومره وخت چي کيږي هغه يي ورک کړي و ، پرون چي کله زه او ستاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار بازار ته تللي و نو عسکر مو مخي ته ورغلل ويي ويل چي بايد ورسره لاړ سو، عزيز ډير تينګار وکړي چي موږ خو څه ندي کړي ولي بايد حوزي ته لاړ سو خو هغوي موږ په زور باندي حوزي ته يوړو ، هلته د حوزي امير کشف يا د مخدره توکو امير سره زموږ خبري وسوي هغوي وويل چي نورالدين اقرار کړي دي او دا يي هم ويلي دي چي په دی کار کي ورسره عزيز خان هم رول درلودي نو که چيري دا موضوع ډير مخکي لاړه سي تاسي ته به ډير مالي او ځاني تاوان ورسيږي ،

پلار دي لومړي نه منل چي موږ داسي کار کړي دي خو کله چي خبر سو چي نورالدين ټول حال ويلي دي نو بيا يي ومنل.

امير مخدره وويل ، زه به ستاسي سره ښه وکم او تاسي بايد زما هره خبره ومني کني نو ستاسي دا ناوړه قضيه به څارنوالی ته يوسم او څه ناڅه به تاسي دواړه تر لس يا شل کلنو پوري په زندان کي تيرکړي ،

پلار دي ورته وويل چي موږ بايد څه وکړو؟

امير وويل ، يو نيم لک ډالر ماته راکړئ زه په دي کارونو باندي پرده اچوم او هيڅ راز به مو نه افشا کيږي.

تر ډير تينګار وروسته دي پلار ورسره ومنل چي يو لک او پنځوس زره ډالر به امير کشف ته ورکوي او هغه به نورالدين او زموږ کورني ته هيڅ زيان نه رسوي.

مور مي دا خبري وکړي او بيايي لويه ساه واخيستل سوږ اسويلي يي وکړي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیلي ته مي وکتل د هغی مخ له غوسي څخه تک سور اوښتي و،

ومي ویل ، زه په دي کارونو باندي مخکي ولي نه وم خبر چي اوس دی راته وویل ؟

مور مي وویل ، زویه په دي سبب مو نه ویل چي هسي نه ستاسي له خولي څخه دا خبره ووځي او ټوله کار مو رصوا سي.

څه شیبه ټول غلي و ، بیا هیلي وویل ، اوس بابا چیري دي او ولي تر اوسه پوري ندي راغلئ؟

مور مي وویل ، هغه راځي پرون ماښام یوې پریکړي ته سره رسیدلي دي نورالدین هم خوشي سوي دي او پرون کور ته تللي دي ، پلار مو هم څه وخت وروسته راځي.

سر مي وښوراوه، د ځان سره مي وویل، هو نورالدین خو خوشي سوي دي او خالد هم زنګ راته وهلي و .

له خوني څخه راووتم فکر مي ډیر ګډوډ و ، داحمددوکان ته راغلم ، احمد وویل ، هلکه دا څو ورځي کیږي چي راسي د مخ جغرافیه دې بیخي خرابه وي !

ومي ویل ، یاره څه درته ووایم ، نفس مي خولي ته راغلي دي هره ورځ یوه نوي کیسه راته پیداکیږي په دې سهار کي مي نن طبیعت خراب سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد په یو ګیلاس کي راته کاپي جوړه کړي وه رايي کړل ویل دا وڅښه خپله به دي طبیعت ځاي ته راسي .

د کاپي څخه مي دوه دري غړپه کړي وه چي د خالد موټر سایکل راغلي په څادر کي یي ځان پیچلي و یواځي یي دوه سترګي معلومیدي ، دوکانته له داخلیدو سره سم یي څادر له ځان څخه لیري کړ تر روغبړ کولو وروسته یي وویل ، حسنه نن به زه د پلاړ د پیداکیدو په خوشحالي کي درته یو څه درکوم خو شرط دادی چي ته به یي نه رد کوي.

د احمد تندی ګونځې وکړي لکه د خالد خبره چي یي نه وي خوښه سوي.

ومي ویل، څه راکوي ته خو یي ښکاره که ؟

خالد جیب ته لاس کړ له جیب څخه یي سګریټ راوویستی ، له تمباکو څخه یي خالي کړي بیایي جیب ته لاس کړي یوه ټوټه چرس چي په کوچني پلاستیک کي پیچلي وه په سګریټ کي یي پخپل تخنیک ځاي په ځاي کړل بیایي لیټر ورته ووهي، له سګریټ څخه شین دود لوګي پورته سو ، خالد خولي ته نیولي و ژر ژر یي څو دمه کش کړل له هر دم سره به یي سترګي پټي کړي وي او سر به یي لوړ نیولي و ، بیا به یي لوګي په ما باندي را خوشي کړي ، څه درواغ به ووایم ماته یي هم دا بوي او دود خوند راکړ.

تر څو دمه وروسته خالد سګریټ پټ راته ونیوي ویل در ونیسه دا زما ډالي ده دا ډالي موږ هر چاته نه ورکوو دا د ځانګړو کسانو لپاره وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد ته مي وكتل ، هغه د نه په كولو سره سر وښوراوه چي مقصد يي دا و مه يي اخله ، ما فقط په دي موخه واخيستي چي خوند يي وګورم او كاذبه خوشحالي حاصله كړم هغسي هم طبيعت مي په ځاي كي نه و .

كله مي چي سګريټ خولي ته كړ غوښتل مي چي دم كش كړم په دې وخت كي مي يو زنانه ږغ تر غوږ شو چي ويي ويل سلام عليكم !

ما سكريټ په خولي كي نيولي و او د ږغ په خوا مي وكتل , ستركي مي هماغسي خلاصي پاتي سوي ځكه دوكان ته هيله راغلي وه او د سلام تر ويلو وروسته يي په ما باندي ستركي ولګيدي.

ژر مي سګريټ له خولي څخه ليري كړ مګر د چرسو بوي او دود ټول دوكان نيولي و ، هيلي په مايوسي راته كتل پرته له دې چي ماته څه ووايی په احمد يي شروع وكړل ويل ، نه پوهيدم چي ستا په څير خلګ به پخپل دوكان كي داسي ناوړه كارونو ته اجازه وركړي ، ددې خبري د كولو وروسته يی بيا زما په لوري وكتل خو څه يي ونه ويل له دوكان څخه ووتل .

احمد په بيړه ورپسي ولاړ سو ور منډه يي كړل ، زه هم ور ولاړ سوم چي وګورم دوي څه كوي؟

احمد هلته ورغلي مائي هيڅ خبري نه اوريدي فكر كومه چي ورته يي ږغ كړي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیله ودریده پخپلو مینځو کي یي څه خبري وکړي د احمد له حرکاتو څخه داسی معلومیده لکه دی چي عذر او زاری ورته کوي .

هیله په غوسه ورڅخه د پوهنتون په لوري روانه سوه احمد بیرته مایوسه د خپل دوکان خواته راغلي.

له ډیرې غوسي څخه یي د مخ رنګ تغیر کړي و ، ما هیڅکله احمد په دومره غوسه کي نه و لیدلي ، اصلا احمد ته غوسه نه ورتلل خو نه پوهیدم چي په هغه ورځ څنګه تر کنترول ووتي.

ماته د را رسیدو سره سم یي وویل ، دبیعقل زویه !

له ما څخه تیر سو خالد یي له ګریوان څخه ونیوئ ، ډیر ټینګ ټکان یي ورکړ په لوړ اواز یي وویل ، تاسی څومره رزیل بیکاره او احمقان یاست!!!

خالد د احمد لاسونه د خپل ګریوان څخه کش کړل د احمد په ځواب کي یي وویل ، ولي ناځوانه لکه چي محبوبا دی ددې کار په لیدو ناراضه سوه ؟

احمد چي دا خبره واوریده لایي غوسه ډیره سوه غوښتل یي خالد ته سوکان ونیسي خو ما له لاس څخه کش کړ ومي ویل ، تاسي دواړه ارام اوسي .

ولي پخپل منځ کې جګړه کوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه زما خور وه ماته يي پريږدي تاسی حق نلري چې په هغې پسې بيځايه خبري وکړي.

احمد نرم سو خپله غوسه يي پټه کړه پخپل ځاي ارام کښيناستی ،خالد وويل، ماخو غلطه خبره نده کړي يواځې مي وويل چې د احمد مينه يا جانو خفه سوه .

د خالد دې خبري په حقيقت کې ماته هم زور راکړي  که څه هم هغه زما د خور په اړه داسی ويل خو څه مې ونه ويل ځکه دا ځاي ددې خبرو نه و  نور فساد او فتنه جوړيده .

احمد بيا ولاړسو غوښتل يي چي خالد ته ورحمله کړي ، مائي مخنيوي وکړي.

خالد له دوکان څخه ووتې په موټر سايکل يی پښه واړول له سترګو پناه سو.

احمد ته مي وويل ، څه در وسوه وروره ولي داسي د بي سواده په رقم جنګيږي هيلي يواځي زه په سګريټ څکولو وليدم تاسي دواړو ته يي څه ؟

احمد په غوسه زما لور ته وکتل ويل ، وروره نه دي واوريدل چي هيلي ماته څه وويل ؟

هغي ماته وويل چي ستاسي په څير انسان څخه مي دا تمه نه وه هغه له ما څخه خفه سوه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا غلي سوو احمد پخپل او زه پخپل ځاي کي ناست و ،

څه شیبه مي فکر وکړي او تیر سوي حالات مي په سوچ کی را وګرځول ، د خالد او احمد خبري مي تر نظر وویستي بیامي نو په احمد مخ راواړوه،

ومي ویل، احمده خالد چي څه وویل هغه رینټیا دي ؟

احمد د ویري او خپګان په سترګو راته وکتل ویل ته څه وایي ورورہ ؟

نږدی یو الماری وه چي کتابونه پکي پراته وه هغه ته مي په توندي سوک ورکړ په غوسه مي وویل ، احمده د خالد خبره رینټیا ده کنه ؟

احمد سوړ اسویلي وکړي ویل ته د هغه احمق په خبرو پسي مه ګرځه هغه که د سړي زوي واي نو زموږ په حق کي به يي داسي څه نه و کړي او اوس به دا جنجال نه واي !

ومي ویل ، که د خالد خبره درواغ وي نو تاته ولي د هیلي په هغه خبره باندي دومره غوسه درغلل او ولي په هیلي پسي ورغلي؟

ایا ما تاته دا حق درکړي چي زما له خور سره دي داسي حال کي خبري وکړي چي هیڅ په تاسو اړه نلري ؟

احمد بي ځوابه و ، نور نو زه هم له دوکان څخه راووتم ، هلته مي د پلار په کیسه باندي فکر خراب و او دلته مي بیا په دې خبرو باندي سر ګنګځ سو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسي هم څو ځلي مي هيله د احمد دوکان کي ليدلي وه خو يواځي د سودا کولو لپاره ، په همدی کشمکش کي وم چي له خپل کور څخه تير سوي وم او د خالد دوي کور ته لږ لاره لا پاتي وه ، نو مي د ځان سره وويل ، هغسي تر دی ځايه راغلي يم ښه دي چي د خالد څخه هم خبري واورم.

ورغلم دروازه مي يي ټک ټک کړل ، تر څه ځنډ وروسته دروازه خلاصه سوه خو نورالدين کاکا مي مخي ته ودريد .

په خوشحالۍ سره مي وويل ، کاکا جانه په خير راغلي ياست ؟

هغه په تروش تندې وويل ، څه غواړي او ولي راغلي يي ؟

ډير مي نيت ورباندي بد سو ځکه څوک عقلن چاته داسي بي دليله نه غوسه کيږي ، خير بيامي هم څه ورته ونه ويل فقط ومي ويل ، خالد سره مي لږ څه کار و هغه کور کي دي؟

کښته او پورته يي راته وکتل ويل هو کور کي دي مګر دادي بايد وروستي ځل وي بيا په خالد پسي مه راځه .

ما چي خوله خبري ته جوړول دروازه يي بنده کړل ،

زه حيران سوم چي ولي دا سي چلندکوي لکه مور او پلار مي چي ور وژلي وي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه شيبه وروسته خالد له کور څخه راووتي ، ويل هااا څه وايي ؟

په نرمه لهجه مي وويل ، وروره تاسي ولي د يو بل سره جنګ وکړي ؟

خالد وخندل ويل ، ته د همدی پوښتني لپاره راغلي يي ؟

ما ويل هو !

ويل ، حقيقت ويل خو ترخه وي ، ما چي کله ريښتيا خبره وکړل نو د احمد رنګ ځنګه تک سور واوښتي ؟

ساه مي ټوله سره راټوله سوه ومي ويل ، ګوره خالده چي په هرڅه باندي پوهيږي نو ماته يي ووايه چي زه هم پوسم او که چيري موضوع بله وه نو ته به دي خندا هيره کړي ځکه تا زما په خور باندي الزام او تور پوري کړی دي.

خالد وويل ، ولي ته نه يي خبر ؟

په غوسه مي وويل ، په څه نه يم خبر ؟

خو په همدی خاطر راغلي يم چي په هرڅه خبر سم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد په ځان پوري خپل څادر سم کړي ستوني يي تازه کړي بيايي ورو وويل ، احمد ستا خور ته سترګي پټي کړي دي او يوه اړيکه ورسره لري !

ددې خبري سره مي دبدن ټوله وينه په جوش کي سوه ومي ويل ، ته څه پوهيږي؟

خالد شاخوا وکتل ويل ، زه څو ځلي د احمد دوکان ته تللي وم کله چي به هلته ناست وم نو په تليفون کي به احمد له کوم چاسره اوږدې خبري کولي که څه هم ما ددوي خبري نه اوريدي خو بياهم پوهيدم چي د يوي انجلي سره خبري کوي

ځکه کوم څوک د نارينه ملګري سره دومره اوږدي خبري نه کوي بيامي هم سر نه په ګرځاوه ځکه چي د احمد سره مي دومره ټينګه ملګرتيا نه وه چي ورسره د هر راز په اړه خبري وکړم ،

خالد بيا لويه ساه واخيسته ويي ويل، کله کله به يوه انجلي د خالد دوکان ته راغلل چي نري اواز يي و يوه بسته به هم ورسره وه کله چي زه به په دوکان کي له احمد سره وم نو انجلي پرته له دې‌چي کوم څه واخلي بيرته به لاړل او ځيني وخت خوبه يي احمد ته يوه اشاره وکړل چي مبايل باندي زنګ ورته وکړي ، ما داهرڅه ليدل خو هيڅ مي نه ويل ځکه ما فکر کاوه چي د احمد به کوم د پوهنتون ملګري وي او زما فکر هم په ځاي و ځکه چي ستا خور هيله د احمد سره په پوهنتون کي هم ده !

خالد نوري خبري کولي مائي په خبرو کي مداخله وکړل ومي ويل ، نو ته څه پوسوي چي دا زما خور هيله ده کيداي سوه چي دا دکلي بله انجلي وي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد زماپه اوږه لاس کیښود په ورین تندي یي خپله خبره وکړل ویي ویل ، خو هغه انجلي نن بیا دوکان ته راغلل او احمد هم ور پسي لاړي بیا تا خپله وویل چي دا زما خور ده نو زه پوسوم چي دا ستا خور هیله ده کومه چي له ډیره وخته د احمد دوکان ته راځي او په موبایل کي ورسره خبري کوي ځکه د ددې انجلي هغه اواز هغه د کتابونو بستي هغه حجاب او هغه تګ وه کوم چي به ما هره ورځ لیدل !

خالد ته مي هیڅ ونه ویل سیده د کور پخوا روان سوم ، کور ته راغلم خپل حواس مي په ځاي کي نه وه د خالد د خبرو څخه ډیر اغیزمن سوي وم ،

په کور کي مي پلار او مور دواړه د کور د سامان په ټولو بوخت وه .

ومي ویل ، بابا ته راغي ؟

هغه زما په لوري وکتل تندي یي کونځي وکړي ؛ ویل هو زویه راغلم ، راځه زموږ سره د کډې په ټولو کي مرسته وکړه چي مازیګر ته باید دا کور خوشي کړو ،

ومي ویل ، ولي یي باید خوشي کړو دا خو زموږ خپل کور دي د پلار او نیکه څخه را پاتي دي ؟

پلار مي سوړ ساویلي وکړي په خف اواز یي زما مور ته وویل ، تا دوي ته کیسه نده کړي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور مي زما په طرف وکتل ، په خواشيني اواز يي وويل ، ورته ومي ويل ټوله کيسه مي ورته وکړل .

ورنږدې سوم پلار ته مي وويل ، تاسي زه ولي مخکي نه وم خبر کړي ، دا نو ځنګه کار دي چي زه اوس خبر سوم او زما له وسي هيڅ هم پوره ندي ؟

پلار مي وويل ، حسنه زويه اوس دا خبري پرېږده اوس نو اوبه له سر څخه اوښتی دي  همدا اخيري د حل لاره ده .

کومه د حل لاره ؟

ايا تيښته د حل لاره ده ؟

پلار مي په غوسه راته وکتل ويل احمقه ته اوس ماته عقل زده کوي ؟

مور مي په سترګو اشاره وکړل ، چي مقصد يي دا و ، د پلار سره دې نور بحث مه کوه.

زه هم د نور څه ويلو پرته خپلي خونې لاړم ، د خالد خبري مي يادي سوي نومي خپل په موبايل باندي هيلې ته زنګ ورکړ ، تر څو ډېټ ډېټ وروسته د هلو ږغ راغلي ومي ويل ته چيري يي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل څه مي کوي ؟

په غوسه مي وويل، چي کور ته راسي زه درسره کار لرم .

هيلي وويل ، ولي په ما باندي هم چرس څکوي که څنګه ؟

دې خبري يي زما نوره هم غوسه ډيره کړل ورغبرګه مي کړه ، انجلي د احمد سره څه کار لري هاا ؟

زه دی په ټوله کيسه خبر سوي يم .

موبايل اړيکه يي پري کړل څو ځلي مي د هلو هلو ږغ وکړي خو هغي ږغ نه کاوه.

له ډيري غوسي نه پوهيدم څه وکړم بيامي احمد په نظر راغلي اراده مي وکړل چي د احمد دوکان ته لاړشم او خپله غوسه ور باندي سړه کړم.

خو کله چي له کوټي څخه ووتم په سراي کي يواځي مور وه د توکو په ټولولو اخته وه پرته له دی چي څه ووايم د دروازي په لوري لاړم ، مور مي راپسي ږغ کړل ، حسنه !

څه دي موري ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل ددي شيانو په راغونډولو کي راسره مرسته وکه هيله هم نسته پوهنتون ته تللی ده.

ورغلم او د شيانو په ټولو لو باندي اخته سوم يوشي راوړم او بل يوسم ، مور مي په خپل ملا باندي لاسونه نيولي وه لکه ملا چي يي درد نيولي وي ، ماته يي کتل ، بيايي وويل ، زويه د پلار په خبرو دې مه خفه کيږه، هغه دي پلار دي چي هرڅه وروايي حق يي دي اوس يي طبيعت او فکر هم ډير خراب دی ځکه چي نن يي دا کور هم خرڅ کړي موټر يي هم خرڅ کړي هغه دوې ځمکي چي به مو کرلي هغه يي هم څرخي کړي هرڅه مو له لاسه ورکړل.

ځيني بالښوته مي په لاس کي وه هغه مي په خاورو کي وغورځوله ورته ومي ويل، ولي يي ټول خرڅ کړل هاا ؟

مور مي وويل ، ځکه چي يو نيم لک ډالر برابروي ، ددې شيانو په خرڅولو برسيره بياهم پيسي پوره نسوي نو بيايي د انس دوي څخه په قرض واخيستي او سبا ته به پيسي هغه د پوليسو امير ته ورکړي .

دی خبرو مي بيخي ذهن خراب کړي د ځان سره مي وويل، بچو اوس کشو ته ولويدي اوس دی نو خداي خير پيښوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازه ټک ټک سوه ، قومندان امير وويل ، راځه څوک يي ؟

عسکر راغلي ويل وبخښه چي مزاحم سوم مګر قومندان صاحب د غرمي د ډوډي وخت دي دولس بجي سوي ، قومندان امير وخندل وريځي يي پورته سوي خړ شونډان يي خلاص کړل ويي ويل ، نجيبه ولا چي هيڅ مي وخت ته پام نه و ، ځکه ددی کس کيسي په سر اخيستي وم ، حسن ته يي په لاس باندي اشاره وکړل .

حسن په فکر کي ناست و ، قومندان امير وويل ، ورسه موږ ته يي همدلته راوړه ځکه چي ډير وخت نلرو کيداي سي چي سبا ته محکمي ته دا ځوان يوسو نو بايد دا کيسه پوره واورم يو خو به مي په دي پيچلي قضيه باندي فکر خلاص سي او بل دا چي ما هم ديغت کړي دي  په ډير وخت مي يو نابلده کس سره مجلس نه و کړي .

عسکر نجيب وخندل ويل، سمه ده امير صاحب هر څنګه چې ته وغواړي ، دروازه يي بنده کړل .

قومندان امير حسن ته وکتل ويل ښه نو ستاسي د بدبختي ورځي له دي ځاي څخه شروع سوي هاا؟

حسن چي اوس څه ويل ، خو قومندان بيا وويل ، ځوانه تا ښه وکړل چي پوره او بيله درواغو کيسه را باندي اوري مګر ستا په کيسه کي له يو جرم ووسته بل جرم وي ، ښه خير اوس دي کيسي ته ادامه ورکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن وويل ،

کله چي غرمه سول ، هيله له پوهنتون څخه راغلل زه مور او پلار مي ټول توکي ټول کړي و .

هغي چيغي کړي ويل تاسي څه کوي ولي مو ټول توکي را غونډ کړي دي ؟

ما چي کله وليدل ، له ډيره قهره مي په قهقه خندا وويل ، راځه راځه د کور شهزادګي اوس راغلل او زموږ دا پريکړه يي خوښه نسول .

مور مي هيلي ته وويل ، هله ژر کوه زموږ سره کومک وکه .

هيلي ماته په سواليه نظر وکتل ،

زه ورغلم هيله مي له لاس څخه ونيول خوني ته مي ور ټيله کړل د هغي ټول کتابونه او نور توکي په ځمکه وغورځيد ، هغی په لوړ اواز وويل ، ته څه کوي زما سره د سړي په څير چلند وکه ؟

له ډيري غوسي مي اواز ريږديدي غوښتل مي چي يوه کلکه چپلاخه يي ووهم خو لومړي مي دا مناسبه وګڼل چي تحقيق په سم ډول وکړم ،

په نرمه لهجه مي ورته وويل ، ته د احمد سره څه اړيکه لري ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغي سترګي له حيرانتيا څخه نوري هم غټي پاتي سوي خو غلي وه ،

بيا مي وويل ، ايا ته د احمد سره کومه اړيکه لري ؟

هيلي خپل ټيکري پړوني په دواړو لاسونو په سر باندی سم کړ په ورو بږغ يي وويل ، هيڅ اړيکه نلرم ورسره.

ما چي خپل موبايل مي په لاس کي نيولي و له ډيري غوسي څخه مي په ځمکه وويشتي په لوړ اواز او چيغو مي وويل ، درواغ مه وايه ټول کلي در باندې خبر دي چي د احمد ته خوښيږي .

د هيلي اواز ژړغوني سو په غريو نيولي بږغ يي وويل ، نو په دي کي ما څه کړي دي چي د احمد زه خوښيږم بايد له هغه سره خبری وکړی په ما باندي ولي چيغي وهي ؟

له غوسي مي سر پورته ښکته کړ د ځان سره مي وويل ، هو بايد له احمد سره خبري وکړم د دروازي په طرف روان سوم ، هيلي را منډه کړل له لاس څخه يي ونيولم ، په ژړا يي وويل ، ودريږه صبر وکه د خداي لپاره احمد ته څه مه وايه !!

په دې وخت کي مي مور خوني ته راغلل د خوني په دروازه کي ودريدل ويل ، دا نو څه حال جوړ کړي دي ؟

تاسی بيا ولي شخړه کوي ؟

او ولي د هری خبري سره د احمد نوم يادوي څه کيسه ده ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيلي ژر خپلي اوښكي پټي كړي بل طرف ته يي مخ واړاوه پخپل ټيكري پړوني يي اوښكي پاكولي ، ماته چي هيله ډيره ګرانه وه او اوس مي يي اوښكي رواني وليدي نو مي خپل ځان ګرم او ملامت احساس كړي ، ما بايد له هيلي سره په داسى انداز خبرى نه واي كړي ، مور ته مي وويل ، موري دې هيلي ته تاسي بړ.غ نكوي هغي له احمد دوكاندار څخه په پور باندې كتابونه اخيستي دي او هغه په ما پسى قرض ليكلي دي .

مور مي لوي افففف وكړي ، د خوني پرده يي خوشى كړل د ځان سره يي وويل ، دانواوس د جنګ خبره ده لكه كوچنيان په هرڅه كي سره چغي وهي .

هيلي ته مي وكتل هغي اوس هم ژړل ، لكه څنګه چې ما خوني ته تيله كړي وه نو د بستي څخه يي ځيني كتابچي او كتابونه په ځمكي لويدلي و د هغه په ټولو وه او د ځان سره يي ورو ورو ژړل .

اسويلي مي وكړي ورمخكي سوم ځيني كتابونه يي ما هم ورسره ټول كړل بيامي په نرمه لهجه وويل ، ګوره خور !

هغي زما په طرف وكتل ستركو كى يي اوښكي ولاړې وي د اوښكو له امله يي د ستركو رانجه چي ستركي يي ورباندي تورې كړي وي هغه راتوي سوي وه ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غیږ کي مي ونیول ، ومي ویل ، تا باید ماته لومړي ویلي و ځکه زه ستا ورور یم ماته دا خوند نه راکوي او نه یي زما غیرت منې چي زما د خور حال دې زه د یو بیکاره او پردی سړي څخه واورم ،

زما چي شبانه خوښه وه ایا ما تاته ونه ویل ؟

هغي سترګي لاندي اچولي وي غلي وه .

بیامي لاسونه د هغي په اوږو باندې ټینګ کړه ومي ویل ، د یو مشر په حیث دا در ته وایم کوم کار چي ته کوي ددی پایله ښه نده !

مور مي راته ږغ وکړي ویلحسنه دلته راسه .

زه هم له خونې ور ووتم مور مي بیا په غوسه و ویل ، په هیلي باندي چیغي مه وهه ، دا خو لا زه ژوندي یم ستاسی دا حال دي دا که زه نه وم ستاسی به څه حال وي ؟

هیڅ مي ونه ویل ،

دروازه ټک ټک سوه ،

ورغلم خلاصه مي کړل ، یو تور ډنګر سړي چي ګریوان یي په خولو کلک و څیري څپلي ببر سر ، او ستومانه ولاړ و ویل ، وروره دا د عزیز خان کور دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومي ويل هو همداسي ده مګر ته مي نه وپيژندي ؟

هغه وويل ما موټر راوستي دي او عزيز خان راغوښتي وم !

پوسوم چي دده په موټر کي توکي نقلوو.

خير ټوله سامان مو په څو ساعته کي د کلي بل طرف ته يوړي خو دا نوي کور مو ډير کوچني خړ پړ او له دوړو څخه ډک و .

پلار ته مي وويل ،بابا دا اوس څنګه کور دي موږ به دلته څنګه استوګن سو ؟

پلار مي سوړ اسويلي وکړي ويل زويه بايد ګوزاره وکو ځکه دا کور مو هم په کرايه نيولي دي ، موږ دومره پيسي نلرو چي په ښايسته پوخ او عصري کور کي و اوسو !!

خير ما هم څه ونه ويل خو د هيلي دا کور هيڅ نسو خوښ ، ځکه ددي کور پخلنځي کوچني تور و او له عصري سهولت څخه بي برخي و .

له تندی څخه يي پوسوم چي طبيعت يي ډير خراب دي نو مي ورته وويل ، خوري خير دي د اوس لپاره همدا ځاي ومنه کله چي بيرته پيسي پيدا کړو نو يو لوي کور به درته واخلم ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغي هم زما د زړه لپاره کاذبه خندا وکړل خو په زړه يي خداي خبر و !

دا ورځ له ډيرو ستونزو سره بياهم تيره سول ټول سامانونه مي ځاي په ځاي کړل ،

سهار نهه بجي به وي چي په لاره روان وم غوښتل مي چي د احمد دوکان ته لاړ سم خو خالد په مخه راغلي ، تر سلام وروسته يي وويل ، حسنه کورني موضوع مو څنګه سول ؟

پوسوم چي د خالد هغه د هيلي کيسه مقصد ده !

ومي ويل ، ايا ته زما د پلار او ستا د پلار په هکله پوهيدي؟

خالد وويل ، هو پوهيدم ولي ته نه پوهيدي ؟

ولا نه پوهيدم ، زما کورني دومره غټ راز زما څخه پټ کړي و ، اوس چي خبر سوم نو شاک مي وليدي نه پوهيږم چي په داسي حالاتو کي بايد څوک څه وکړي ؟

خالد زما خبري پري کړي ويي ويل ، ستا له خور سره دي څه وکړل ؟

که څه هم ما د خالد تيره پوښتنه صرف نظر ګرځولي وه خو خالد نه پوهيدي چي بايد د چا په کورني کارونو کي پوښتني ونکړي په خاصه توګه بيا د خور په اړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومي ويل ، هو هغه  تحقيق مي وکړي هغه د احمد سره هيڅ اړيکه نلري هرڅه چي ورپسي ويل سوي دي ټول درواغ دي .

خالد چي خبري ته خوله جوړول ، احمد له کوره راووتي د پوهنتون بستي هم ورسره وه زموږ په ليدو يي وويل ، السلام عليکم !

خالد مخ واړاوه مګر ما يي د سلام ځواب وويلي ، احمد له موټر سايکل څخه را ښکته سو راغلي او د خالد مخي ته ودريد ويي ويل ، که څه هم غلطي او تيروتنه ستا عادت دي او ته ملامت هم يي مګر زه درڅخه بخښنه غواړم ځکه چي تاته مي پرون ورځ توهين وکړي .

د احمد دې چلند زيات خوند راکړي ، په ريښتيا چي تعليم انسان ډير باادبه کوي او د انساني چلند څخه يي خبروي ،

خالد د احمد په طرف وکتل ويي ويل ، ته د چيشي لپاره زما څخه بخښنه غواړي بايد زه ستا څخه بخښنه و غواړم ځکه چي د حسن خور او ستا ميني يا جانو ته مي سپکاوي کړي دي !

په دي خبري سره د احمد مخ له شرم څخه سور واوښتي ، ماته يي په مايوسي وکتل ، خالد ته مي په غوسه وويل ، دانو اوس ددي خبرو ځاي دي ، ددي په ځاي چي د احمد سره روغه وکړي ته يي لاهم شرموي او تورورباندي وايي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد وخندل ویل ، ته هم ریښتیا وایي باید زه خو ستاسي دواړو ستاینه وکړم ، ځکه په تاسو کي د یوه کس خور په ټول کلي کي د پوهنتوني انجلي په نوم مشهوره ده او د هر چا سره ناجائزه اړیکي لري او بل کس مو د هر ډول بدو او فاحشو انجونو سره رابطه ساتي .

ماچي اوس د خالد ځواب ویلي زما نه مخکي احمد ور باندي د سوک وار وکړي په لوړ او غوسه ناک اواز یي وویل ، هو زه د هیلي سره مینه لرم تاته یي څه احمقه ستا راسره حسد کیږي هاا؟

خالد چي ځان سره راټولاوه احمد تر لس سوکه ډیر وهلي و ، او د هر سوک سره به یي ویل ، هو زه د هیلي سره مینه لرم د لیونیانو غوندي مینه ، بیا به یي خالد په خوله باندي په سوک ووهه ، خالد یي په خاورو کي داسي لت پت کړي لکه د مکې شیطان ، اخیر چي د کلي بل کس په لاره تیریدي هغه راغلي د احمد او خالد جنګ یي خلاص کړي خو خالد یي داسي حال ته رسولي و چي د ولاړئ ځواک یي نه درلود ،

ماهم دوي په دي حال کي پریښودل او ورڅخه روان سوم ، ګامونه مي ګړندي کړل تر څه لاري لاړم چي احمد په موټر سایکل باندي را پسي راورسیدي ویل ، راپورته سه چي دوکان ته لاړ سو !

ومي ویل نه زه نه ځم ورسه ته خو پوهنتون ته ځي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد ډیر ټینګار وکړي ترڅو ورسره لاړ سم ، اخیر مجبوره سوم او ورسره روان سوم .

احمد د پوهنتون په ځاي خپل د قرطاسیي دوکان ته راغي دوکان شټر یي پورته کړي دوکان یي خلاص کړي دواړه په دوکان کي کښیناستو ، د احمد د ګوتو څخه د وینو څاڅکي څڅیدل ، ومي ویل ، احمده ستا لاس ژوبل سوي دي ؟

هغه په حیرانتیا خپل لاس ته وکتل ، ویني ورڅخه رواني وي ، ژر یي لستوڼي پورته کړي خو نوري ویني نه وي ، بیایي وخندل ویل ، دا زما وینه نده دا د هغه ناولي خالد وینه ده ، بیا لاړي او خپل لاس یي پریمنځي ،

څه شیبه دواړه چوپ و چې دا چوپتیا احمد په دي الفاظو ماته کړل ،

حسنه وروره نه پوهېږم څه ووایم ؟

ما چي هر څه خالد ته وویل هغه ټول ریښتیا دي او یوه خبره یي هم درواغ ندي زه په ریښتیا ستا د خور هیلي سره مینه لرم او دوه کاله کیږي چې یو بل ته ډیر نژدي سوي یو ، ماچي خبري ته خوله جوړول احمد وویل ، صبر وکه ته اوس هیڅ هم مه راته وایه لومړي زما خبري واوره !

بیایي خبرو ته ادامه ورکړل ویل ، هو دوه کاله کیږي چې د یو بل لپاره ژوند کو په پوهنتون کي هم یو بل ته نیژدي یو ، مګر که چیري ته ووایي چي نور ورسره مه ګوره او مه خبري ورسره کوه ، نو زه په خداي قسم یادوم او وایم چي بیابه هیڅکله هم ورته ونه ګورم، مګر دومره وکړه چي هیلي ته هیڅ زیان مه رسوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چي ته هم يو مئين کس يي او زه اټکل کوم چې د خپل ځان په اړه او دشباني په اړه به ښه فکر ولري ، نو د نورو په اړه هم داسي فکر وکه لکه دخپل ځان .

داحمد داخبري پوره په ځاي وي او نه پوهيدم چي دده په جواب کي څه ووايم ؟

دوه دري ورځي ووتي چي بيامي خالد په سترګو نه راغي نه پوهيدم چي روغتون کي بستر و او که کور کي ؟

خو دومره پوهيدم چي د احمد دا خوندور او غټ سوکان چي يي وخوړل نو حتمآ به يوه مياشت په ځاي پروت وي .

يوه ورځ مي هيلي ته وويل چي په شبانې باندي حال لري ايا زما وړانديز يي قبول کړ ؟

هغي وويل ، ولا نه پوهيږم ځکه له هغي ورځي وروسته مي بيا هيڅ د حال کولو فرصت پيدا نکړي ،

نومي وويل د خالد د مور نمبر راکه چي زنګ ورته ووهم !

ويل ولي ؟

مور ته يي ولي زنګ وهي ؟

ومي ويل چي زه بيا ستا مرستي ته اړتيا لرم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه داسې چي زه يي مور ته زنګ ووهه او موبايل تاته درکړم نو ته به ورته ووايې چي د شبانې سره ويني کله چي مور يي دا غوښتنه ومنل نو بيا به زه ستا سره يوځاي لاړشم او شبانه به ووينم .

هيلي په حيرت راته کتل ويل ، ته اوس بيا تير تاريخ تکراروي ؟

ومي ويل ، ګوره خور ، زه بله هيڅ لاره نلرم همداسي وکړه چي ما وويل .

هغي زړه نا زړه ومنل ويل سمه ده همداسي کوم !

موبايل مي واخيست او د خالد مور ته مي زنګ وکړي موبايل مي هيلي ته ورکړي ، د هاخوا ږغ راغلي ويل سلام عليکم!

هيلي په خبرو شروع وکړل ، لومړي يي د ټولي کورني حال وپوښتي د خالد مور هم له ماتي خوا جواب ورکاوه ، بيا هيلي وويل ، زه غواړم چي د شبانې سره خبري وکړم ډير وخت کيږي چي نده مي ليدلي او نه مي هم خبري ورسره کړي دي ، هغي وويل ،چي اوس مصروفه ده پخلي کوي بيابه وروسته درته زنګ ووهئ ددي خبري په کولو سره يي اړيکه پري کړل.

هيلي ماته وکتل يو ډول خندوونکي حرکت يي وکړي او په ټوکي اواز يي د خالد دمور پيښني وکړي ويل ، هغه اوس مصروفه ده پخلي کوي بيابه وروسته درته زنګ ووهئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دواړو مو په کړس کړس وخندل ، هیلي خپل ږغ ته دومره تغیر ورکړ چي عیني داسي سو لکه د خالد د مور او په یو جالب انداز یي د خالد د مور د خولې پیښي کولي ، موږ په همدي ټوکو اخته و چي موبایل مي وشرنکید ،

ما هیلي ته وکتل پخپلو شونډو مي ګوته کېښوده ، یعني چوپ شه !

هغي موبایل را څخه واخیستي ، شبانه وه تر ځینو لومړینو خبرو وروسته هیلي وویل ، ته له ما خفه یي ؟

لکه څرنګه چې د موبایل ږغ سپیکر و ما هم اوریدي نو هغي وویل ، نه خفه نه یم

هیلي وویل ، نو بیا ولي زموږ کور ته نه راځي ؟

هغي وویل ، راځم هسي هم زما لږ څه کار هلته و نن حتماً درځم ، بیایي ځیني نوري خبري وکړي او موبایل یي بند کړي .

هیلي وویل، وګوره څنګه ژر مي ستا کار حل کړي .

په سر باندی می یوه کرار چپلاخه ووهل ومي ویل ، مننه کوم مننه !!!

نیم ساعت وروسته دروازه خلاصه سوه په یو تور نقاب کی خړي سترګي معلومیدي ، چټک قدمونه یي واخیستل ، هیله دکوټي څخه ور ووتل روغبړ یي شروع کړ ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د پښتنو دښځو روغبړ دي خداي خير کړي چي دري ساعته يي ستړي مسي نه خلاصيږي!

شبانه په بيړه وويل ، ستا ورور حسن کور کي دي ؟

د هيلي خندا بنده سول زما دخوني د کلکين په طرف يي وکتل او ويي ويل ، هو همدلته دي غواړي ورسره ووينې ؟

هغي وويل هو غواړم چي ورسره ووينم !

له خوشحالي ځخهمي سترګي راووتي ، په بيړه د هينداري په طرف په منډه لاړم په ويښتانو کي مي ګوتي ووهلي په جيب کي مي عطر وه هغه مي په ځان ووهل او چمتو د دروازي په طرف ودريدم .

د خوني دروازه خلاصه سول ، شبانه د خوني مخي ته ولاړه وه په خف اواز يي وويل ، دننه در تللي سم ؟

افففف ساه مي بنده سوه ومي ويل ، هو ولي نه !

هغه هم پښه نيولي خوني ته راغلل ، خپل نقاب يي له مخي نه ليري کړ ، خړي بنوري سترګي يي زما په طرف کړي نري شونډان يي سره جدا سول ويل ، ځنګه يي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مننه کوم اوس خو بیخي ښه سوم چي راغلي ،

بیامي د ناستي کولو بلنه ورکړل ، خو هغي وویل ، زه نه کښینم ځکه په ډیر تلوار راغلي یم ، را مخي سول ، ما د سترګو د پورته کولو جرئت نه درلود بیخي د هغي په مخ کي کونکي سوم ، هغي زما راسته لاس ور کش کړ ویل حسنه ، دا واخله ، په لاس کي یي هغه ګوتمي راکیښودل چي ما په هغه ورځ ورکړي وه او ورته ویلي مي وه چي دا زما د میني نښاني ده .

زیاته یي کړل ، زه دا نسم اخستي که څه هم ډیره ښه ډالي ده .

خوله مي له خندا ډکه ډوله سول په ریږدیدلي اواز مي وویل ، ولي څه سوي دي ولي یي نسي اخیستي ؟

هغي لویه سا واخیستل ویل حسنه د بل کس امانت یم ،

زما کوژده هغه وخت سوي ده چي زه په ښه او بد هم نه پوهیدم،

زه مي د پلار او ټولني سره دلایل نسم ویلي، تر دي چي بي عزته سو نو نه غواړم ستاسره دا اړیکه ولرم ، زه د بل په نوم یم او هغه کس زما د کاکا زوي جلال دي .

دا خبره خبره نه وه ، سم د ټوپک ډز و چي زما په زړه باندي یي وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



له سترګو مي د مايوسي اوښکي رواني سوي ومي ويل ، دا ته څه واي ، زه به څه کوم او څنګه به ژوند کوم ؟

هغي په ژړغوني اواز وويل ، زه نه پوهيږم چي ته به څه کوي خو زما ژوند د بل کس سره تړاو لري او زه د خپل ږغ د پورته کولو جرئت هم نلرم .

زړه مي ټکان وخوړي د بدن وينه مي ټوله مخ ته راغلل سر مي را باندي وګرځيد ، له لاس څخه مي هغه ګوتمي ولويده ، شبانه را څخه لاړل او زه يي په خونه کي يواځي پريښودم .

دځان سره مي وويل ، ما خو هير کړي و چي زه په پښتنو کي ژوندکوم او پښتون يم ، دا خو د پښتنو رواج دود ، او کلتور ګرځيدلي دي که هلک وي يا انجلي په ماشومتوب کي يي واده يا کوژده وکړي کله چي هغوي ځوانان سي د ميني او عشق په معنا پوسي ، يايي د بل کس سره مينه وسي لکه زما ، خو هغه وخت خبره خرابه سوي وي ، بيايي نو نه خپل کوژدن خوښ وي او نه هم دا ژوند .

ما حتا په هغي پسي د ږغ کولو توان نه در لود پخپل ځاي باندي وغورځيدم لکه چي ټوله نړي مي بايللي يي .

حسن اوښکي پاکي کړي قومندان يي مخاطب کړ ويي ويل ، امير صاحب ته نه پوهيږي چی هغه صحنه څومره دردونکي وه د ويلو او بيانولو څخه يي اوس زه عاجز يم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندان امير وويل، هو ولا چي زور غواړي ، هلكه ستا بخت خو له كوچنيوالي څخه تور سپي ښتلي دي .

قومندان امير وويل ، ښه نو بيا څه وسول ؟

حسن وويل ، شپي او ورځي تيريدي ما هم كوښښ كاوه چي شبانه هيره كړم خو نه كيدل په هرڅه كي به مي هغه ياديدل ،

تر ټولو سخته خو دا وه!

چي زه پوهيدم چي نه كيږي

خوبيا مي هم انتظار كوئ .

زموږ اقتصاد دومره خراب سو چي حتا ډير وخت به داسي راغي چي وږي به ګرځيدو ، مګر بر عكس د نورالدين دوي اقتصادي وضيعت ډير ښه و او هغه څه چي موږ درلودل هغه دوي ته ور انتقال سوي و .

يوه مياشت ووته .

د شبانې معصومي څهري او زړه راښكونكي سترګو به تل راته په هر كار كي مزاحمت كاوه ، يو ځلي مي فكر وكړي چي شبانه به ددی لپاره چي زه يي لاره ونه نيسم نو درواغ به يي راته ويلي وي ، نو مي اراده وكړه ترڅو د خالد سره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي اړه بحث وکړم ، ورغلم او خالد ته مي تر څو لومړنيو خبرو وروسته وويل، ياره خالده تاسي څومره په ځنډ سره ودونه کوي !

خالد وخندل ويل ، دا موضوع نو له کومه سول ؟

ومي ويل ، نه همداسی مي وويل ، ځکه چي اوس خو ته هم ځوان يي او همداسې نور هم ستاسی په کورني کي يوڅوک سته چي بايد واده وکړي.

خالد وويل ، هو زما پلار نورالدين خان څو ځلي راته انجوني پيداکړي وي مګر زما نه وي خوښی په دي سبب مي پريښودي ، او زما خور شبانه خو له پنځه کلني څخه کوژده سوي ده .

افففف ددي خبري په اوريدو مي سر راباندې وګرځيد ، ومي ويل ، دانو اوس د سړي کار دي د پنځو کالو ماشومه نو څوک کوژده کوي ؟

خالد وويل، وروره ستا هدف څه دی ؟

ولي بيځايه غوسه کيږي او ولي دومره شخصي پوښتني کوي ؟

زړه خو مي غوښتل چي خالد مخ په چپلاخو ور وپړسوم مګر د وخت تقاضا نه وه .

ومي ويل ، ګوره خالده درواغ مه وايه ياره ، ايا په ريښتيا مو شبانه کوژده کړي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وويل ، ګوره حسنه صفا خبره وکړي ، ولي خبري يوي او بلي خواته څغلوي ؟

زما هم نور طاقت ونسو ومي ويل ، زه ستا له خور شبانه سره مينه لرم او ولا چي تر تا هم راباندي ګرانه ده .

په دي خبري باندي مي د خالد د عصابو لاينونه شاټ کړل ، ولاړ سو ويل ، رزيله دا ته څه وايي ، خپلو خبرو ته دي پام کوه ؟

ما بيا وويل، خالده ته مه غوسه کيږه دا خو ژوند دي څه بد خو مي نه دي ويلي غواړم ستا له خور سره واده وکړم !

خالد د پيغور په رقم وويل ، موږ ستاسي په څير بي حيا بي وجدانه او فاحش خلګ نه يو لکه تاچي خپله خور احمد ته د ډالي په څير بيله له دي چي نکاح وکړي په لاس ورکړي ده .

نو زه هم ور ولاړ سوم هغه دچا خبره نه مي يي سر کتل او نه هم پښي ، چي لاس بهمي ورته سم کيدي په هغه ځاي به مي پهسوک واهه.

زموږ جنګ تر ډيره دوام ونکړي چي احمد په لاره تيريدي ،

پرته له دي چي څه ووايي يا پوښتنه وکړي چي جنګ په څه او ولي دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد ته يي سوکان او لغتي ونيولی ، خداي سته چي د کلي ځو خلک راغلل مګر خالد يي د احمد ښځه نسو خلاصولي ، که ريښتيا ووايم په هغه ورځ زه د احمد ښځه وويريدم ، په جنګ کي يي هيڅ په چا رحم نه کاوه او تل به يي ويل ، چي لومړي خو بايد جنګ ونکړو ، مګر که چيري مو جنګ سو نو بيا يو قدم هم شاته مه ځي .

ريښتيا هم احمد خپله خبره عملي کړه .

ورځي او شپي تيري سوي ، ډير ځلي مي خپلي کورني ته ويلي و چي د شباني په روي باري لاړ سي مګر دا خبره هيڅ چا هم ونه‌منل ځکه اوس زموږ او د نورالدين خان دوي کورني د دښمني تر ځايه رسيدلي وي .

نو يوه ورځ د احمد په دوکان کي ناست وم ، پلار مي احمد ته زنګ را ووهئ ځکه ما خپل موبايل له ډيري غوسي په ځمکه ويشتلي و چي دهيلي سره مي د احمد په اړه خبري کولي .

خير ، احمد موبايل ماته راکړئ ويل پلار دي درسره خبري کوي ، ما هم موبايل واخيست، پلار مي وويل ، زويه زه ناوخته کورته راځم ته اوس کورته لاړ سه او دغرمي لپاره کوم څه د سره يوسه.

ومي ويل ، سمه ده بابا همدااوس ځم .

د احمد ښځه مي رخصت واخيست د لږ څه ترکاري رانيولو وروسته د کور په طرف روان وم چي هيله د پوهنتون ښځه په لاره د کور لور ته روانه وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر يو ځاي پوري مي تعقيب کړل ، خو کور ته نارسيده دهيلي مخ ته موټر سايکل ودريد چي د موټر سايکل چلونکي په ځان يو لوي څادر و، مخ يي نه‌معلوميدي ،

د هيلي څخه يي بکسه واخيستل او په ځمکه يي په خاورو کي وغورځوله، ما خپل قدمونه چټک کړل ، ډير ورنږدي سوم خو ددوي ماته پام نه و !

موټرسايکل چلوونکي وويل ، ګوره هيلي نن ماښام بيا خامخا راسه ښه مسته شپه به تيره کړو او نن مي يو ډول ښه نامي سکريټ هم راوړي دي ، ډير وخت دي نه نيسم فقد دوه ساعته وخت درڅخه غواړم ، هغه‌کس‌غوښتل چي هيلي ته لاس واچوي خو هيلي په يو طرف باندي منډه کړل ، ماورباندي ږغ کړل ، صبر وکړه اي بيغيرته !!!

هغه چي زما ږغ واوريدي موټر سايکل ته يي ريز ورکړ او په منډه يي لاره ووهل حتا شاته يي هم ونه کتل !

زه ورغلم د هيلي بکسه مي له خاورو څخه پورته کړل ورنږدي سوم ، ما ويل داڅه بد اخلاقي ده دا د احمق زوي څوک و ؟

هيلي په ريږديدلي اواز وويل ، دا ستا تر ټولو ښه ملګري او دوست خالد و !

ساه مي بنده سوه ما ويل څه ، خالد ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغي بکسه راڅخه واخيستل او روانه سول ويل هو خالد و !

دا د هغه لومړي ځل ندي چي داسي کوي هره ورځ چي زه له پوهنتون څخه راځم نو دي راته دا ډول خبري کوي !

هيلي زياته کړل ، ما ور ته وويل چي ته ولي داسي راسره کوي ؟

خالد راته وويل چي ستا ورور حسن ولي زما د خور په اړه خبري کوي ؟

د هيلي مخي ته ډير خجالت سوم او وينه مي دومره په جوش کي راغلل چي څه درته ووايم ومي ويل ته لاړه سه زه د خالد سره کار لرم !

هغي وويل ، وروره ته ورسره کار مه لره هغه رواني چرسي او ليوني دي !!

په غوسه مي وويل ته لاړه سه او زما په کارونو کي کار مه لره !

هغه هم بي له دي چي څه ووايي  د کور په خوا لاړل !

زه د خالد دوي د کور په خوا ورغلم د يو کس څخه مي موبايل واخيست او نور الدين کاکا ته مي زنګ ووهه ، ومي ويل ، نورالدينه نور دي له زوي څخه لاس پريمنځه ځکه چې زه يي وژنم !

ما دا خبره ما له غوسي څخه وکړل په حقيقت کي مي نه غوښتل چي ريښتيا هم خالد ووژنم فقد ما غوښتل چي دوي وويروم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موبایل مي بند کړ د خالد دوي د کور دروازه مي ټک ټک کړل ، خو هیچا خلاصه نکړل ، بیامي په زور سره ټک ټک کړل څه شیبه وروسته د خالد مور دروازه خلاصه کړل ویل څه کوي هاا؟

په زور وردننه سوم سیده دخالد کوټي ته ورغلم ، هغه په چوکي کي ناست و او په موبایل کي یي خبري کولي ، زما په لیدو یي په وارخطا بږغ وویل ، هله بابا هغه دادي راغلي .

موبایل یي بندکړ ،

سمدلاسه مي ورته وویل، رزیله تا زما خور ته لاس واچوه !

هغه چي خبري ته خوله جوړول ما ورباندي حمله وکړل ، تر څو سوکانو وروسته خالد په منډه له کوټي څخه ووتی ، د خالد مور لوي لوي چیغي وهلي ویل هلي زوي یي رامړ کړ !

زه په خونه کي یواځي پاتي سوم ، که ګورم چي خالد یوه غټه چاړه راپسي راوړل ، په لوړ بږغ یي وویل، رامخکي سه چي له ژوند څخه دي خلاص کړم !

چاړه دومره غټه وه چي په لیدو یي زما د بدن ویښتان جګ جګ ودریدل ،

دا چاړه د انسانانو نه وه قصابانو وربادي پسونه حلالول ، د خالد فکر کوم په ما باندي د پس ګومان و.

خالد په هماغه چاړه راباندي واري وکړي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د خپل ځان دفاع تر یوه وخته وکړل خو د خالد ګوزارونه پرله پسي وه ، اخیر په دي وتوانیدم چي د خالد د لاس څخه چاړه واخلم ، خالد نه راڅخه ګرځیدي او لا یي هم راسره جنګ کاوه !

څو سوکان یي زما په دا نازک مخ ووهل ، حوصله مي پای ته ورسیده او ناڅاپه مي د چاړي واري ور باندي وکړي په نس کي مي څو ځایه په چاړه ووهئ !

خالد یخ پخ ودرید !

سترګي یي زړي زړي پاتي سوي ، مور یي لوي لوي ساندي وهلي ، زه په داسي حالت کي وم چي هیڅ مي دماغو را سره ملګرتیا نه کول ، یو وخت مي فکر سو چي خالد مي داسي وهلي دي چي بیخي مي وژلي دي .

بدن مي بي سیکه سو په ګونډو وغورځیدم ، چاړه مي له لاس ولویده ،خالد مي مخي ته بي حرکته پروت و ، په کور کي انګولاوي سوي چغي سوي خو زما غوږونه لکه دف چي وي هیڅ مي نه اوریدل یوائي مي خالد ته په زړو سترګو کتل چي هغه پروت و ، او وینه یي له بدن څخه روانه وه !

هیڅ نه یم پوسوي چي وخت څنګه ووت ، او چا پولیس خبر کړي و ،

بیا تاسو راغلي او زه مو دلته راوړم !

حسن وویل ، نو څنګه قومندان امیر زما کیسه دي خوښه سوه کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندان امیر په تعجب سره ورته کتل ویل هو کیسه خو مي خوښه سوه مګر ته نه پوهیږي چي تا څومره لویه تیروتنه کړي ده کاش چي دا قتل دي نه و کړي.

اوس به ته په دي حال کي نه وي او تا خو ټول ثبوتونه هم په ځان باندي اړولي دي نه پوهیږم چي سزا به دي څه وي خو خداي دي خیر درته پیښ کړي.

حسن سترګي لاندي په ځمکه ګنډلي وي په ریږدیدلي اواز یي وویل قومندانه په ما باندي یو احسان کوي؟

هو ووایه که مي له وسه پوره وي کوم یي او تا بي ګناه ثابتهوم .

حسن ترخه موسکا وکړل ویل قومندانه ، زه د خپل برائت غوښتنه نه کوم بلکي زه وایم چي باید زه محکمي ته وسپارل سم چي هرڅه کیږي هغه دي وسي.

قومندان چي خبري ته خوله جوړول یو زنګ ورته راغلي، هلوو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځه شيبه د مقابل طرف خبرو ته غوږ و بيايي وويل سمه ده امير صاحب معلومات او تحقيقات د ثبوت سره دي ، سبا ته به يي محکمي ته معرفي کړو ستونزه نسته

بيايي تليفون قطع کړ ويل ، حسنه ما غوښتل ستا سره ښه وکړم مګر تا خپله وغوښتل چي محکمي ته دي بوځي او هرڅه محکمی ته ووايو .

عسکر ته يي غږ وکړي هغه هم راغلي قومندان وويل دا هلک بوځي او تر سبا پوري يي په يوه کوټه کي وساتي او هو د نورو بنديانو په شان ورسره چلند وکړي نه تر هغو بد وي او نه هم تر هغو ښه ، بيايي حسن مخاطب کړ ويل حسنه تر سبا سهار پوري انتظار وکړه او د اتل جوړيدو هيڅ هيله مه کوه پوسوي ؟

حسن د هو په دودو سر کښنته پورته کړي ويل سمه ده .

د عزيز خان موبايل ته زنګ راغلي هغه هم جواب ورکړ .

ورته وويل سول چي زه قومندان امير يم او سباته به مو زوي په اته بجو باندي محکمي ته وړاندي سي تاسو بايد ځان حاضر کړي.

عزيز، ايا تاسو خپلي پلټني داسي ژر پای ته ورسولي؟

هو موږ ټول ځيرني وکړي او نور معلومات هم تر سبا پوري بشپړ کيږي نو بايد سباته راسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده امیر صاحب ځنګه چي تاسو غواړي.

د ماښام تیاري د ښار ځراغونه اړ کړل چي نور پخپل فعالیت باندي پیل وکړي ټول روښان سول خو په کلي کي یوه توره او ویرونکي شپه روانه وه.

بل خوا بیا د نورالدین په کورني باندي هم مصیبت راغلي و چي ټولو ژړل او د خالد مرګ یي د خپلو ځانو لپاره یو لوي غم باله.

سهار لمر خپله روښاني په ځمکي خوره کړه او نور یي د تیاري واکمني ته د پای ټکي کیښود.

عزیز د اتو بجو څخه مخکي خپل ځان امنیتي قومنداني ته ورسوله او هلته یي د قومندان امیر سره ولیدل.

هغه د سهار دناشتي څخه لا نه و فارغه چي امر یي وکړي ، حسن له کوټي څخه راوباسي او رایي ولي.

څو شیبي وروسته حسن په لاسونو کي زولنې وي او د خپل پلار او قومندان په وړ اندي ودرید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار يي په مايوسي ورته کتل ويل زويه هيڅ اندېښنه مه کوه موږ خپلي ټولي هڅي کوو او يو وکيل به هم ځان ته‌پيداکړي ترڅو دا قضيه مخته يوسي د پيسو کار هم ما کړي دي او د جمعه ګل ځخه مي پرون لږ څه واخيستل انشاالله هرڅه به سم سي.

حسن غلي و سترګي يي ښکته وي او هيڅ يي نه ويل.

ټول موټرونو ته پورته سول او تر محکمي پوري راغلل نورالدين ددوي ځخه مخکي راغلي و او داسي يي حسن ته کتل تا به ويل چي اوس به يي په پخپلو سترګو وخوري.

يو کس چي توره نيکټايي او سپين شيرټ يي په تن و ، يو کوچني بکس غوندي بيک يي هم لاسکي و راغلي او دحسن مخي ته ودريد ويل ، سلام ، زه مجيب او ستا وکيل يم !

حسن په حيراني وکتل ويل ما خو کوم وکيل ندي غوښتي او نه وکيل غواړم !

مجيب وکيل وخندل ، ويل ځوانه داخو سمه ده چي ته وکيل نه غواړي مګر زه د دولت لخوا راغلي يم په دي سبب چي ته نسي کولاي چي د قاضي سره مستقيم خبري وکړي ، ته به له قاضی سره زما په وسيله خبري کوي او هرڅه چي وي هغه به زه و قاضي وايم .

حسن هيڅ ونه ويل او د خپل پلار په طرف يي په حيرانی وکتل ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجیب وکیل زیاته کړل ، ویل ماته پرون ماښام قومندان امیر ټوله کیسه کړي ده او زه به یي اوس ټوله خولاصه وقاضي ته پیښ کړم .

څه شیبه وروسته ټول د قاضي په وړاندي و !

وخت ووت ټولي خبري هرڅه چي حسن قومندان امیرته ویلی وه هغه ټوله مجیب وکیل د قاضي په وړاندي په ډیر کمال وویل ،

قاضي تر لږ فکر کولو وروسته خپل کوچني څټک په میز وواهه ویل تر ټولو هلوځلو او معلوماتو وړاندي کولو وروسته زه دا پریکړه اعلانوم چي حسن د عزیز زوي په دې تور سره چي د نورالدین یواځیني زوي خالد یي د چاقو پواسطه سره قتل کړي او د ټولو ثبوتونو په اساس او دې ته په کتلو سره چي د نورالدین دوي کورني نه غواړي په هیڅ صورت ددي مړي فدیه واخلي اویابې وبخښي نو زه دا اعلان کوم چي حسن تر ټولو معایناتو وروسته اعدام کیږي.

او دده اعدام به تر هغه وخته پوري ځنډیږي تر څو چي په بدن کي یې هر ډول ناروغي له منځه نه وي تللي .

ددی خبري پهاوریدو سره په محکمه کي غوغا سوه ، د حسن مور له ډیره غمه بي هوشه ولویده حسن ولاړ و او دنورالدین په طرف یي خپلي مایوسي سترګي اړولي وي له سترګو څخه یي ګرمي اوښکي لاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورالدين سر جګ نيولي و او په محکمه کي د ځينو نورو کسانو سره ناست و.

قاضي د لاسليک کولو وروسته خپل قلم په هغه کاغذ باندي مات کړ ، تر څو دا ثابته کړي چي قاضی د حسن سره هيڅ ځاني دښمني نلري فقط د عدالت په سبب يی د اعدام پريکړه وکړل.

حسن له کټاري څخه کښته سو او عسکرو له ځان سره محبس يا زندان ته يوړو عزيز او کورني يي کور ته راغلل ، عزيز کورني ډير زاري او عذر نورالدين دوي ته وکړي مګر هغوي ونه منل او ټينګار يي کاوه چي بايد حسن قصاص سي .

بل خوا حسن په زندان کي ناست و اوښکو يي په مخ لاري کړي وي ،

فکر به يي مور ته سو چي د هغي ناز ورکول به يي ياد سول چي څنګه په ناز او ادب سره يي لوي کړ او څومره ښه وخت يي ورسره تير کړ ، بل خوا به يي د پلار مينه غوسه مهرباني او نصيحت ياد سو چي ويل به يي حسنه زويه ملګرو ته هيڅکله دومره وخت مه ورکوه چي په کورني کي دي ځاي ونيسي.

بيايي د خپل جومات د ملا هغه خبره ياده سول چی هغه ويلي و هيڅکله د بل خور مور لور ته په بد نظر مه کوره نو ستاسو د ښځو خويندو او ميندو به الله تعالی حفاظت وکړي.

بله دا چي :

خيانت پخپله يو غچ دي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



که نن تا وکړي سبا ستا سره کيږي.

حسن ته دا ځاي ډير بد و چي هرڅه ده خپله په ځان کړي وه ځکه دا يوه حديثه يا طبعي پيښه نه وه ، ځکه يي ځان ډير ملامت کاوه او په همدي سبب يي ژړل او زړه ورته لړ و.

دوه ورځي ووتي ، د سهار اووه بجي وي ، حسن يي له کوټي څخه راوويستی ، حسن بلکل رنګ اړولي و ، ځکه د مرګ په انتظار يي هره شپه سبا کړي وه .

ببر سر لځي پښی موټر ته پورته سو يوي او بلي خواته يي عسکر ناست و ، د حسن په لاسونو کي زولنو او اولچک ددي لپاره و چي تيښته ونکړي .

د کلي مينځ ته موټر راغلي ، ټول کلي ورباندي را ټول سو چا بد رد ويل خو چا ددوي په حال باندي ژړل ،

قومندان امير وويل، هله نو حسنه لږ وخت لري بايد د ټولو څخه رخصت واخلي ،

حسن چي په پښو د دريدو توان هم نه درلود د خپلي کورني په لوري وکتل ، مور يي په حسن پوري ټينګه سوه ويل زما بچيه څنګه خداي راڅخه واخيستې ټينګ ټينګ يي په مخ باندي ښکلوي او هيڅ يي نه پريښودي چي د بل سره وګوري او خبري وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن وويل ، زه فقط څو دقيقي ژوند لرم يواځي تاسي ماته بخښنه وکړي او خپل حق مو راته حلال کړي تر څو چي په اخرت کي در ته ملامت نه يم په دي دنيا کي خو مي ستا حق په ځاي نکړي.

موري يي په ژړا کي وويل ، در بخښلي مي دي ستا قربان سمه زما زمريه زويه.

حسن بيا خپل پلار ته ورغلي ويل ، بابا جانه ستا حق بيخي زيات و مګر ما خو ستاسي ټولو حق په ځاي نکړي مګر په دي اخير وخت کي يي راته وبخښي.

پلار يي حسن په غيږ کي ونيو ويل زويه کاش چي ستا واده مو ليدلي واي او کاش چي تا زما مرګ ليدلي واي نه دا چي زه ستا مرک وينم.

حسن، خير بابا دا هم د الله تعالی همداسي خوښه وه هسي مړکيدم خو په دي باندي خوشحال يم چي د خپلي کورني لپاره وژل کيږم ځکه مامي هرڅه د خپلي کورني لپاره کړي دي.

پلار يي حسن په مخ باندي ټينګ مچي کړ او حسن هم د خپل پلار لاسونه ښکل کړ ورڅخه تير سو .

حسن د خپلي يواځيني خور هيلي خواته راغلي !

په ژړا يي وويل خوري ماته بخښنه وکړه ما ستا په حق کي ډير زيات غفلت کړی دي ماته مي خپل نارينه توب پيغور راکوي چي څنګه مي تاته په هغي ورځ خبري وکړي او خپله مي هم داسي تيروتني کړي دي چي هيڅ د بخښلو وړ ندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیلي چي د خپل ورور ژړا ولیدل نو د هغي اواز دومره پورته سو چي ټولو خلکو په تعجب سره ور ته کتل ، حسن خپله هیله خور په غیږ پوري ونیول او ورته یي ویل چي خوري خپل حق دی راته حلال کړه.

په خلکو کي دومره غم او خپګان ددوي په لیدو خپور سو چي حتا نورو خلکو هم ورسره وژړل.

حسن احمدته راغي ویل ، ملګري ستا سره مي هم ښه وخت تیر کړ ، خو ارمان چي ژوند راسره ناځواني نه واي کړي ،

د احمد له سترګو اوښکي رواني وي ، حسن یي په غیږ کي کلک ونیوئ ، ویل وروره کاش چي دا یو بد خوب واي او کاش چي له دي خوب څخه راپاڅېدلي واي ، هیڅ مي زړه نه غواړي چي له غیږي مي لیری سي .

حسن په لوړ اواز وویل ، تاسو ټولو ته وایم زما دایوه خبره واوري !

ټول خلک متوجي سول !

حسن ورغلي د هیلي لاس یي ونیوي او د احمد په لاس کي یي ورکیښود ، بیایي وویل ،زما اخیري وصیت دادي چي د هیلي او احمد نکاح باید وسي او دواړه د خاوند او میرمن په توګه ژوند مخي ته یوسي زه خو هسي هم خپلي میني ته ونه رسیدم خو نه پریږدم چي بل کس زما په څیر د خراب برخلیک سره مخ سي ، بیایي بړغ تغیر وکړي او په ژړا کي یي بړغ ورک سو .

څه مو سر په درد کوم !

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن يي په موټر کي کښينوي ، د زندان په طرف راغلل !
هغي کوټي ته يوړي چيري چي محکوم کسان راوستل کيږي او اعدام کيږئ ،
د حسن سره قومندان امير ، د زندان ريس ، ډاکټر ، او احمد و .

د قومندان دنده داوه چي حسن تر محبس پوري راوړي .
د زندان ريس هم خپل مسوليت ادا کاوه.
ډاکټر ددي لپاره و ، چي کله کله داسي هم کيږي چي محکوم کس تر ټاکلي وخت وروسته چي کله له دار څخه ښکته سي نو ژوندي وي ، نو ډاکټر يي ګوري او معاينات يي کوي که چيري ژوندي وي نو د ژوند کولو دوهم چانس يي هم پيداکړ مګر که وژل سوي و نو کيسه يي پای ته ورسېدل.

احمد په دي سبب راغلي و ، چي هغه کس چي اعدام کيږئ نو د هغه کس ټوله کورني اجازه نلري چي محبس او دار ته د ننداري کولو لپاره راسی ، يو کس کولاي شي چي راسی او دا ننداره وکړي .
تر ډير ټينګار کولو وروسته احمد عزيز خان ته قناعت ورکړي و چي زه ځم او راغلي و .

حسن يي دار ته پورته کړي ، يوه ښوي تخته وه هلته يي تم کړي .
بيايي دوه رکعته لمونځ ادا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوکس راغلي او د حسن په سر باندی يي توره کښوړه واغوستل ، لاسونه يي شاته ور اولچک کړل ،

جلاد هم چمتو ودريد ،خپل لاسي ساعت ته يي کتل ، تر څو چي هغه ګير يي کش کړ چي تخته لاندي کړي.

د ګير د کش کولو وروسته تخته لاندي لاړل او حسن په هغه رسي باندي ځوړند سو چي دده په غاړه کي وه .

څو ثانيي يي ځان ټينګ کړي و خو بيايي سا بنده سول ، پورته پورته کيدي تر څو دقيقو وروسته يي بدن بي حرکته سو او همداسي ځوړند و .

احمد چي دا حالت وليد ، زړه يي ضعب وکړ او بي هوشه ولويد.

غرمي ته يي قبر د کلي په عامه هديره کي وکښل سو او حسن يي ورښکته کړ ترڅو د خپل عمل سزا او جزا ووينې.

نورالدين په دي خوشحال و چي د زوي غچ يي واخيست !

او په هسکه غاړه په کلي کي ګرځيدي.

په اخر کي يو کال وروسته د حسن هغه غوښتنه پوره سوه چي ويلي يي وه ، احمد او هيله بايد يو د بل سره واده وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واده شپه وه د ورا موټرونه يو په بل پسي روان وه ، د زړي او خړي هديري څنګ ته ټول موټرونه تم سول ، د ښايسته او ګلفوش موټر څخه هيله او احمد د واده په جامو کي راښکته سول ، د حسن قبر ته راغلل ،

هيلي د قبر په ليدو دومره وژړل چي خپل سينګار يي خراب کړ ،

د حسن په قبر يي سره ګلونه کيښودل او يو زرغون ټوکر يي ورباندي هوار کړ .

د خپل سپين نقاشی لاس څخه يي يو بنګړي وويستي او د حسن په قبر يي کيښود ، سترګي يي له اوښکو څخه ډکي وي ،

د حسن د قبر سرته په ډېره باندي ليکل شوي و !

اوس مي د قبر سر ته مه کښينه رضا به نسم

زه درنه دومره ليري لاړمه چي را به نسم

د مرګ نه وروسته چا ته به نه ښکارمه خاوري به سم

خو زه به داسي ژوندون تير کړم چي پناه به نسم

هيله تر څه وخته پوري د حسن قبر ته ناسته وه تر څو چي د هيلي پلار راغلي له لاس څخه يي ونيول او ګلفوش موټر ته يي پورته کړه.

دا کلي بيرته خپل پخواني ژوند ته ادامه ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وخت په تیرو سره حسن او خالد دواړه هیر کړل سول .

پای.

ډاکټرعتیق الله ژمن

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**